مجلۀ علمی - تحقیقی دانش
دورۀ اول، سال اول، شمارۀ دوم، تابستان
۱۴۰۵هـ ش، ۱۴۴۸هـ ق

# په نبوي احاديثو کې د ماشومانو حقوق

تاریخ دریافت: ۱۴۰۵/۳/۱۸هـ ش
تاریخ پذیرش: ۱۴۰۵/۴/۱۷هـ ش

هبت‌الله عابد[۱]

**لنډیز**

ماشوم هغه انسان ته ویل کېږي چې د تولد څخه تر بلـوغ پـورې مرحلـه کـې وي او دا دوره د انسـان د شخصیت د جوړېدو بنسټیز پړاو ګڼل کېږي، په دې مرحله کې د ماشوم فکري، رواني او ټـولنیز جوړښـت رامنځته کېږي، نو ځکه یې سمه روزنه او د حقوقو تأمین ځـانګړی اهمیـت لـري. د ماشـومانو حقـوق د اسلامي شریعت له مهمو او بنسټیزو موضوعاتو څخه دي، چې نبوي احادیثو ورته ځانګړې پاملرنـه کـړې ده، په دې څېړنه کې د نبوي سنتو له نظره د ماشـومانو حقـوق پـه تحلـیلي او علمـي ډول څېـړل شـوي، ترڅو څرګنده شي چې اسلام د ماشوم د ژوند له پیل څخه تر بلوغ پورې کوم حقوق تضمین کـړي دي. د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی چې معاصرې نړۍ د ماشومانو د حقوقو موضوع نسبتاً ناوختـه مطـرح کړې، حال دا چې اسلام له څه باندې ۱۴۰۰ کلونو وړاندې د ماشوم د ژوند، روزنې، تعلیم، نفقې، عـاطفي خوندیتوب او ټولنیز احترام په اړه جامع اصول وضع کړي دي. دغه څېړنه د والدینو، ښوونکو او ټـولنیزو مسؤولینو پوهاوی لوړوي او د معاصرو حقوقي بحثونو لپاره اسلامي بدیل وړاندې کوي. د څېړنې اساسي اهداف په نبوي احادیثو کې د ماشومانو د حقوقو تشخیص، د هغو طبقه بندي او د معاصرې نـړۍ لپـاره یې د عملي ارزښت څرګندول دي. په دې څېړنه کې نظري (کیفي) تګلاره کـارول شـوې ده، معلومـات د قران کریم، نبوي احادیثو، فقهي او حقوقي منابعو څخه راټول او په تحلیلي بڼه ارزول شـوي دي. څېړنـه دې پایلې ته رسېدلې چې نبوي سنتو د ماشـوم حقـوق پـه دوه اسـاسي پړاوونـو کـې تنظـیم کـړي دي: د زېږون څخه مخکې او د زېږون څخه وروسته مرحلو کې په دغو حقوقـو کـې د صـالحې مـور انتخـاب، د جنین ساتنه، د سقط منع، اذان، تحنیک، ښه نوم، عقیقه، رضاعت، نفقه او اسـلامي تربیـه شـامل دي، پـه ټوله کې، نبوي احادیث د ماشوم د حقوقو یو جامع، متوازن او عملي نظام وړاندې کوي چـې د سـالمې او متوازنې ټولنې د جوړېدو بنسټ ګڼل کېږي.

**کلیدي کلمات:** حقوق، روایت، ماشوم، صحابه، نبوي احادیث.

---

۱. د روښان پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي علمي غړی: hebatabid2021@gmail.com

**۱. سريزه**

**الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ، وَمَنْ دَعَا بِدَعْوَتِهِ إِلَى يَوْمِ الدِّينِ. قَدْ قَالَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى فِي مُحْكَمِ تَنْزِيلِهِ:** (وَلا تَقْتُلُوا أَوْلادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْئاً كَبِيراً)،[۱] (الاسراء: ايت ۳۱) و قال تعالى في موضع اخر (وَلا تَقْتُلُوا أَوْلادَكُمْ مِنْ إِمْلاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ)،[۲] (الانعام: ۱۵۱)، وقال رسول الله ﷺ (ليسَ منَّا من لَم يَرحَمْ صغيرَنا، ويُوَقِّرْ كبيرَنا)[۳]، (السجستاني، ج ۲ ص ۷۰۳، رقم الحديث ۴۹۴۳)، (الترمذي، ۱۹۹۸م: ج۳، ص۳۸۶، ح ۱۹۲۰) او (الشيباني، ۱۴۱۶هـ: ج۶، ص ۲۸۰، ح۶۷۳۳).

دا چې د ماشوم د لفظ په اوريدو سره د انسان ذهن کې د يوه مخه د هغه مترادف مفاهيم لکه معصوم، مظلوم او داسې نور د عاطفې او ولولو څخه ډک د مينې، محبت، مرحمت او شفقت احساس په څپو شي او دا هغه سپيڅلى نوم دى، که هر څوموره يې په اړوند ليکل وشي کمه به وي.

دا چې د کوچنيانو حقوق په نړۍ کې له خورا اهميته ډکه موضوع ده، چې ځانګړې پيچلتيا لري او نړيوالو يا غير اسلامي ټولنو د ۱۷۹۶م کال څخه وروسته ديته متوجه شول او د لومړي ځل لپاره په انګلستان کې د يوې خپلواکې او مستقلې حقوقي اصطلاح په توګه وکارول شوه، حال دا چې د اسلام مبارک دين د نن څخه څه باندې ۱۴۰۰ کاله وړاندې د ماشوم حقوق په مکمل او بشپړ ډول بيان کړي او د کوچني حقوقو ته په درنښت او ارزښت باندې قايل دى، ځکه د ماشومتوب مرحله په شخصيت جوړونه کې يوه مهمه او اساسي مرحله ده، چې په فردي شخصيت باندې هم مثبت او هم منفي اثرات لري. بناً اسلامي شريعت او نظام په نورو نظامونو باندې ماشوم ته د حق ورکولو په برخه کې وړاندې والى لري.

ماشومتوب د انسان د ژوند تر ټولو لومړۍ مرحله ده چې دا مرحله د اسلام مبارک دين په دوه برخو ويشلې او په هره برخه کې يې د ماشوم حقوقو ته پوره پاملرنه او احتمام کړى دى.

لومړى د زيږيدونه مخکې مرحله کې د ماشوم حقوق: چې د يوې صالحې مور په انتخاب سره پيل کيږي دغه راز د حمل په دوران کې د ماشوم او مور صحت ته پاملرنه او خيال کول، د جنين سقط حراموالى، حاملې ښځې ته د روژې د خوړلو اجازه، د حاملې ښځې د زنا حد ځنډول تر ولادت ان ماشوم ته د شيدو ورکولو د مودې تر پايه پورې.

دويم د زيږيدو نه وروسته مرحله کې د ماشوم حقوق: د ماشوم د زيږيدو نه وروسته د هغه د پاللو لپاره اسلام يو شمير احکام وضع کړي لکه د ماشوم په ولادت خوشحالي او زيرى کول، په غوږ کې ورته اذان کول، د ماشوم د حلق لوندول په خرما سره، په اوومه ورځ د ماشوم د ويښتانو خريل، په همدې ورځ پرې ښه نوم ايښودل، په همدې اوومه ورځ پرې عقيقه کول، په همدې ورځ د ماشوم سنتول، د شيدو ورکولو موده پوره کول، ماشوم ته نفقه ورکول، ماشوم ته اسلامي تربيه ورکول او داسې نور، دا مرحله د زيږيدو څخه شروع او ځوانۍ ته په رسيدو سره پاى ته رسيږي.

---

۱. «او خپل اولادونه د فقر او تنګلاسۍ له ويرې مه وژنئ؛ موږ هغوى ته او تاسو ته روزي ورکوو، بېشکه د هغوى وژل لوى ګناه دى.»
۲. «او خپل ماشومان د بېوزلۍ او نېستۍ له کبله مه وژنئ، ځکه چې موږ تاسو ته او هغوى ته رزق او ورځې ورکوو.»
۳. «هغه څوک زموږ نه دى چې زموږ د وړو (کوچنيانو) سره مهرباني نه کوي، او زموږ د مشرانو (لويانو) درناوى نه کوي.»

دا چې اسلام ولې د ماشوم حقوقو ته چې د مور د نس څخه شروع تر ځواني او تر سړيتوب مرحلې پورې رسيږي دومره اهميت ورکړی؟ دا هر څه د دې لپاره ترڅو وکولی شو ټولنې ته د چارو د سمون په موخه پوه، مدبر، متفکر او غښتلي اشخاص وړاندي کړو.

د ماشوم په روزنه کې تر ټولو ستره دوره هغه دوره ده کومه چې يې د مور او پلار په خوا کې تيروي له همدې وجې اسلام د يوې نيکمرغه او صالحې کورنۍ په جوړلو اصرار کوي، کومه چې د يو پرهيزګاره خاوند او نيک عمله ښځې نه منځته راتلی شي، لکه څنګه چې رسول اللهﷺ امر کړی: (تُـنكَحُ المَرأةُ لأربَعٍ: لمالِها، ولحَسَبِها، ولجَمالِها، ولدينِها؛ فاظفَرْ بذاتِ الدِّينِ تَرِبَت يَداكَ) تاسو د ښځو سره نکاح وکړئ، خو په انتخاب کې زيات اهميت دين ته ورکړئ نه مال، نسب او ښايست ته(صحيح البخاري، ح۵۰۹۰) او(صحيح مسلم، ح۱۴۶۶).

دغه راز بل حديث کې راځي: (ليسَ منَّا من لَم يَرحَمْ صغيرَنا، ويُوَقِّرْ كبيرَنا) چې څوک د لويانو احترام او په کوچنيانو شفقت نه کوي، هغوی زموږ له ډلې (امت) څخه نه دي. (السجستاني، بدون تاريخ: ج۲، ص۷۰۳، ح۴۹۴۳)، (الترمذي، ۱۹۹۸م: ج۳، ص۳۸۶، ح۱۹۲۰) او (الشيباني، ۱۴۱۶هـ: ج۶، ص۲۸۰، ح۶۷۳۳).

دغه راز الله رب العزت فرمايي: (وَلا تَقْتُلُوا أَوْلادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْئاً كَبِيراً)، (الاسراء: ۳۱). ژباړه: «او مه وژنئ تاسې اولاد خپل د ويرې د فقره (که ډير شي روزي به راباندې تنګه کړي، ځکه ) چې هم دا موږ روزي ورکوو دوی او تاسې ته هم، بې شکه چې قتل د دوی دا خطاء (ګناه) ده لويه (چې د نسل او د نوعې قطع ده)(عثماني او ديوبندي، ۱۴۱۴هـ: ج۱، ص۱۶۲۱).

په بل ايت کې الله تبارک و تعالی فرمايلي دي: (وَلا تَقْتُلُوا أَوْلادَكُمْ مِنْ إِمْلاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ)، (الانعام: ۱۵۱). ژباړه: او مه وژنئ تاسې اولاد خپل له ويرې د فقر او خوارۍ نه، موږ رزق (روزي) درکوو تاسې ته او هم دوی ته(عثماني او ديوبندي، ۱۴۱۴هـ: ج۱، ص۸۲۸).

دا هغه مهم حقوق دي چې اسلام ماشوم ته ورکړي او د هغه د ژوند هرې مرحلې ته يې قوانين او مقررات په نظر کې نيولي دي، په دې څيړنه کې صرف د نبوي احاديثو له نظره د ماشومانو پر حقوقو په تفصيل سره بحث شوی دی، ترڅو دا معلومه کړو چې جناب نبي‌کريمﷺ په خپلو مبارکو ويناو او اعمالو کې ماشوم ته کوم حقوق بيان کړي.

**څيړنيزې پوښتنې**

**اساسي پوښتنه:** په نبوي احاديثو کې د ماشومانو کوم حقوق ذکر شوي دي؟

**فرعي پوښتنې: ۱)** په نبوي احاديثو کې د ماشومانو ذکر شوي حقوق څنګه طبقه بندي کيدای شي؟ **۲)** په نبوي احاديثو کې د ماشومانو حقوق څه ارزښت لري او د معاصرې نړۍ لپاره عملي اهميت په څه کې دی؟

**فرضيه(انګېرنه):** د نبوي احاديثو په رڼا کې دا معلومه شوې چې جناب نبي‌کريمﷺ د ماشومانو حقوق په هر اړخيز ډول بيان کړي دي او نبوي لارښوونې د ماشوم د انساني کرامت، ژوند، سالمې روزنې، تعليم، جسمي او رواني ودې، عدالت، شفقت او ټولنيز خونديتوب لپاره بنسټيز اصول وړاندې کوي چې د دغو اصولو عملي کول د سالمې کورنۍ، با اخلاقه نسل او نېکې ټولنې په رامنځته کولو کې مهم رول لري.

داسې فرض کېږي چې نبوي احاديث د ماشومانو د حقوقو د ساتنې لپاره هر اړخيز شرعي بنسټ وړاندې کوي او د ژوند، روزنې، تعليم، عدالت، رحمت او انساني کرامت اړوند حقوق يې په واضح ډول بيان کړي دي.

داسې فرض کېږي چې که د نبوي احاديثو له مخې د ماشومانو حقـوق پـه کـورنۍ او ټولنـه کـې پـه سمه توګه عملي شي، نو د ماشومانو د حقونو د نقض ډېرى ستونزې به کمې شي او د سـالمې، عادلانـه او مسؤلې ټولنې په جوړېدو کې به مهم رول ولوبوي

**څېړنيز اهداف: ۱)** په نبوي احاديثو کې د ماشومانو ذکـر شـوي حقـوق پـه ګوتـه کـول. **۲)** پـه نبـوي احاديثو کې د ماشومانو د ذکر شويو حقوقو طبيقه بندي کول. **۳)** د ماشومانو د حقوقـو پـه اړه د نبـوي احاديثو علمي ارزښت څرګندول او د معاصرې نړۍ لپاره يې عملي اهميت بيانول.

**د څېړنې اهميت:** د ماشوم حقونه د ټولنې د سالمې ودې، اخلاقي سلامتيا او بشـري کرامـت د سـاتنې بنسټ جوړوي، ماشوم د ژوند ښکلا، د کورنۍ د خوښۍ سرچينه او د راتلونکې ټولنې هسته ګڼـل کېـږي، د همدې راتلونکي د سمون لپاره اړينه ده چې ماشوم هغه ټول حقـوق، امکانـات او ملاتـړ ترلاسـه کـړي چې د سالم شخصيت د جوړېدو او د اغېزمن ټـولنيز رول د ادا کولـو لامـل کېـږي، نـو ځکـه د ماشـوم پـر حقوقو بحث او هغوی ته عملي بڼه ورکول د هرې ټولنې د ثبات او پرمختګ لپاره حياتي ارزښت لري.

له بلې خوا، نننۍ نړۍ د بشر پر حقوقو په ځانګړي ډول د ماشوم او ښـځې پـر حقونـو ډېـر ټينګـار کوي؛ خو اسلام د نن څخه ۱۴۰۰ کاله وړاندې د بشر، ماشوم، ښـځې او حتـی حيوانـاتو حقـوق واضـح او خوندي کړي او د عملي کولو لپاره يې اصول او قوانين وضع کړي دي. نبوي سنت د اسلامي تشريـع هغـه سرچينه ده چې د ماشوم د روزنې، پالنې، تربيې، عاطفې، عدالت، ميراث، نسب، نفقـې، تعلـيم او ټـولنيز احترام په اړه زړې او نوې اړتياوې په يوه پراخ، انساني او الهامي چوکاټ کې بيانوي، نـو ځکـه، دا څېړنـه لاندې څو مهمې ګټې لري:

- په اسلامي منابعو کې د ماشوم حقونو څرګندول نړۍ ته دا ښايي چې اسلام د ماشوم په اړه تـر ټولو ژر (مخکې)، بشپړ او ارزښتمن اصول وضع کړي دي، په داسې حال کـې چـې تاسـو سـوونه کاله وروسته دې ته متوجه شوي ياست.
- د والدينو، کورنۍ مشرانو او ټولنيزو مسؤولينو پوهاوی لوړوي، ترڅو د ماشوم حقونه پـه واقعـي بڼه وپېژني او عملي يې کړي.
- معاصر نړيوالو بحثونو ته اسلامي بديل وړاندې کوي او څرګنـدوي چـې اسـلامي لارښـونې د هـر زمان او مکان لپاره بشپړې، جامع او د تطبيق وړ دي.
- د ماشوم د سالمې روزنې لپاره يو علمي چوکاټ وړاندې کوي چـې د راتلـونکې نسـل د جوړېـدو لپاره اغېزمنه لار ده.
- په دې توګه د نبوي سنتو په رڼا کې د ماشوم د حقونو څېړنه نه يواځې د اسلامي علومو په کچه ارزښت لري، بلکې د بشري حقونو د نړيوال بحـث لپـاره هـم يـو مهـم علمـي او عمـلي ارزښـت وړاندې کوي.

## ۲- تيرو ليکنو ته منطقي کتنه

د ماشومانو د حقوقو موضوع د اسلامي شريعت، نړيوالو بشري حقونو او ملي قوانينـو لـه مهمـو بحثونـو څخه ده، چې په دې اړه بېلابېلې علمي څېړنې ترسره شوې دي، د دغو څېړنو کتنه د دې لپـاره اړينـه ده چې د موجودو علمي هڅو لاسته راوړنې، تشې او د اوسـنۍ څېړنـې ځانګړتيـا روښـانه شي، لانـدې د دې موضوع اړوند مهمې څېړنې په منطقي ترتيب سره ارزول شوې دي.

صیام الدین پسرلی په (۱۳۹۲هـ ش) کې «د ماشومانو حقوق» ترعنوان لاندې کتاب لیکلی، نوموړي په دې کتاب کې د ماشومانو حقوقو د اسلامي شریعت، افغانستان وضعي قوانینو او نړیوالو اسنادو له مخې د ماشومان حقوق بیان کړي، لیکوال په دې کتاب کې د نبوي احادیثو مستقل تحلیلي بحث نه دی وړاندې کړی، بلکې د شریعت ټولیز چوکاټ یې بیان کړی دی، په داسې حال کې اوسنۍ څېړنه په ځانګړي ډول د نبوي احادیثو پر بنسټ د ماشومان حقوقوتحلیلوي.

خیر محمد شریفي په کال (۱۳۹۷ هـ ش) کې د «ماشومانو حقوق» تر عنوان لاندې کتاب لیکلی دی، ده هم کټ مټ د پسرلي صیب غونډې د اسلامي شریعت، افغانستان نافذه قوانینو او نړیوالو اسنادو له مخې د ماشومان حقوق بیان کړي دي، البته یو توپیر یې شته هغه دا چې ده بیا د ماشومانو جزایي برخه هم د جزایي قوانینو له مخې تر بحث لاندې نیولې چې په کوم وخت کې ورته مسؤلیت راجع کیږي او په کوم وخت کې ورته مسؤلیت نه راجع کیږي، اما ده هم په ځانګړي توګه په نبوي احادیثو کې د ماشومانو په حقوقو بحث نه دی کړی، چې همدا د اوسنۍ څېړنې لپاره یوه اړتیا په ګوته کوي.

محمد زرمان په کال (۲۰۰۰م) کې د «حقوق الطفل في الشریعة الإسلامیة» تر عنوان لاندې د اسلامي شریعت له نظره د ماشومانو پر حقوقو هر اړخیزه څېړنه ترسره کړې ده، نوموړي د قرآن کریم، نبوي سنتو او د فقهاوو د نظریاتو په رڼا کې د ماشوم د ژوند، نسب، نوم، رضاعت، نفقې، روزنې، تعلیم، روغتیا، میراث او ټولنیز ملاتړ حقونه تشریح کړي دي، څېړنه دې پایلې ته رسېدلې چې اسلام د ماشوم د شخصیت د جوړونې لپاره له زېږون مخکې او وروسته بشپړ حقوقي او اخلاقي نظام وړاندې کړی او د ماشوم د مصلحت ساتنه یې د شریعت له اساسي موخو څخه ګڼلې ده، سره له دې، لیکوال د نبوي احادیثو مستقل تحلیلي بحث نه دی وړاندې کړی، بلکې د شریعت ټولیز چوکاټ یې بیان کړی دی، په داسې حال کې چې اوسنۍ څېړنه په ځانګړي ډول د نبوي احادیثو پر بنسټ د ماشومانو د حقوقو تحلیل کوي.

حنان جدید په کال (۲۰۱۹م) کې د «حقوق الطفل بین الشریعة الإسلامیة والقانون الجزائري» تر عنوان لاندې د اسلامي شریعت او د الجزایر د نافذه قوانینو ترمنځ د ماشومانو د حقوقو مقایسوي مطالعه ترسره کړې ده، څېړنه د ماشوم د نسب، حضانت، نفقې، تعلیم، روغتیا او ساتنې حقونه د اسلامي احکامو او الجزایري قانون له موادو سره پرتله کوي او دې پایلې ته رسېږي چې د الجزایر د کورنۍ ډېری قوانین د اسلامي شریعت له اصولو الهام اخلي، خو په ځینو اجرایي او حقوقي برخو کې د عصري قانون غوښتنې هم په پام کې نیول شوې دي، د دې څېړنې تمرکز پر قانوني مقایسې دی، نه د نبوي احادیثو پر موضوعي تحلیل، له همدې امله د نبوي احادیثو د حقوقي مضامینو تفصیلي څېړنه پکې نه ده شوې.

سیتي سمیعه بنت اسماعیل په کال (۲۰۱۳م) کې د «حقوق الطفل في الشریعة الإسلامیة والقانون البروناوي» تر عنوان لاندې د اسلامي شریعت او د بروناي هېواد د قوانینو ترمنځ د ماشومانو د حقوقو مقایسوي ارزونه کړې ده، لیکوالې د ماشوم د اساسي حقوقو، د کورنۍ د مسؤولیتونو، تعلیم، روغتیا، سرپرستۍ او ټولنیز خوندیتوب په اړه د اسلامي شریعت احکام د بروناي له حقوقي نظام سره پرتله کړي دي، د څېړنې پایله ښیي چې د بروناي اسلامي حقوقي نظام په پراخه کچه د اسلامي شریعت له اصولو سره همغږی دی او د ماشوم د حقوقو د ساتنې لپاره مناسبه حقوقي زمینه برابروي، سره له دې، څېړنه د نبوي احادیثو موضوعي تحلیل نه وړاندې کوي، بلکې د حقوقي نظامونو پر مقایسې تمرکز لري.

علي قاسمي زيدان المهداوي په کال(۲۰۲۳م) کې د«حقوق الطفل بين الشريعة الإسلامية والقانون العراقي» تر عنوان لاندې د اسلامي شريعت او عراقي قانون ترمنځ د ماشومانو د حقوقو مقايسوي څېړنه ترسره کړې ده، په دې څېړنه کې د ماشوم د ژوند، هويت، نفقې، حضانت، تعليم، روغتيا او ټولنيز خونديتوب اړوند حقوق د اسلامي احکامو او د عراق د نافذه قوانينو له مخې ارزول شوي دي، څېړنه دې پايلې ته رسېږي چې د عراق ډېرى قوانين د اسلامي شريعت له بنسټيزو اصولو سره سمون لري، خو د عملي تطبيق په برخه کې لا هم ځينې حقوقي او اداري ستونزې موجودې دي، د دې څېړنې اساسي محور هم د شريعت او قانون ترمنځ مقايسه ده، نه د نبوي احاديثو خپلواک او موضوعي تحليل.

له پورته څېړنو څخه څرګندېږي چې ډېرى پخوانۍ ليکنې د ماشومانو حقوق د اسلامي شريعت او بېلابېلو ملي قوانينو ترمنځ په مقايسوي ډول ارزولې دي، يا يې د اسلامي شريعت عمومي اصول بيان کړي دي، خو تر ډېره داسې خپلواکه علمي څېړنه نه ليدل کېږي چې د نبوي احاديثو په رڼا کې د ماشومانو ټول حقوق په موضوعي، تحليلي او استنباطي ډول راټول او وڅېړي، له همدې امله، اوسنۍ څېړنه د همدې علمي تشې د ډکولو لپاره ترسره شوې او هڅه په کې شوې چې د نبوي احاديثو له اصلي سرچينو څخه د ماشومانو حقوق راوباسي، تحليل يې کړي او د اسلامي روزنيز او حقوقي نظام په رڼا کې يې علمي ارزونه وړاندې کړي.

پورته تيرو ليکنو ته د کتنې او ارزونې پر بنسټ څرګندېږي چې په اسلام کې د ماشومانو حقوقو موضوع بيلابيلو څيړونکو د بيلابيلو او مختلفو زاويو تر څېړنې لاندې نيولې، مګر د نبوي سنتو پر بنسټ په مستقل او منظم ډول تحليل او څيړل شوې نه ده، يعنې د احاديثو په رڼا کې تحليلي او موضوعي ارزونه نه ده ترسره شوې، له همدې امله ما په خپله څيړنه کې د نبوي سنتو صريحو احاديثو او عملي سيرت په کارولو سره، د ماشومانو حقوق په علمي، فقهي او موضوعي ډول وړاندې کړي.

سره له دې چې د ماشومانو د حقوقو موضوع په معاصره نړۍ کې د نړيوالو قوانينو او کنوانسيونونو له لارې په پراخه کچه مطرح شوې، لا هم په نړيوال علمي او حقوقي ادبياتو کې دا انګېرنه موجوده ده چې د ماشومانو د حقوقو مفکوره يو معاصر او لوېديځ ابتکار دی، په داسې حال کې چې نبوي سنت له پېړيو وړاندې د ماشوم د ژوند، روزنې، تعليم، عاطفي خونديتوب او انساني کرامت بنسټيز حقوق په يو جامع او متوازن چوکاټ کې بيان کړي دي.

اصلي ستونزه دا ده چې د نبوي سنتو پر بنسټ د ماشومانو د حقوقو منظم، تحليلي او سيستماټيکې علمي څېړنې کمې دي، چې له امله يې هم د اسلامي حقوقو په اکاډميک ډګر کې تشه رامنځته شوې او هم د اسلام په اړه ناسم تصورات پياوړي پاتې شوي دي، له همدې امله، اړتيا ده چې د نبوي احاديثو په رڼا کې د ماشومانو حقوق په علمي او تحليلي ډول وڅېړل شي، تر څو د هغوی مفهومي بنسټونه، ډولونه او عملي ابعاد روښانه او د معاصرې نړۍ له ننګونو سره يې تړاو معلوم شي.

**۳- د څيړنې تګلاره**

دا چې څيرنه مختلفې طريقې، تګلارې او اساليب لري چې بايد په څيرنه کې په نظر کې ونيول شي او معاصر علمي اصول او قواعد په کې مراعت. البته يوه خبره چې ډېره مهمه ده هغه دا چې د موضوع طبعي بڼه خپله د تګلارې د اختيار فيصله کوي او هر متخصص د خپل د تخصص په رڼا کې ځانته يوه لاره غوره کوی. مګر واړه لارې او طريقې به د دريو حالاتو څخه خالي نه وي يا به نظري څيرنه وي چې په دې کې ټوله اتکاء په مصادرو او مراجعو باندې کېږي کيفي بڼه باندې تحليليږي او يا به ميداني څيرنه وي چې په دې کې د پوښتنپاڼې له لارې ډېټا راټوليږي او د بيلاو سافټويرونو په مټ په کمي بڼه

تحلیلیږي او یا به هم مختلطه څېړنه وي چې هم په کې له کیفي او هم پـه کـې لـه کمـي میتـود څخـه استفاده کېدای شي، چې یوه برخه یې په کیفي بڼه او بله یې په کمي بڼه تحلیلیږي او نتیجـه یـې لاسـته راوړل کیږي.

بناءً د همدی اصولو او قواعدو په نظر کـې نیولـو سره مـاهم د خپلـې څېړنـې لپـاره نظـري (کیفـي) تګلاره اختیار کړې چې د مختلفو کتابونو او اساسي منابعو څخه مې د موضوع په راغونډولو کې اسـتفاده کړې او بیا مې تحلیل کړي، چې د منابعو فهرست مې د څېړنې په پای کې پـه APA سـټایل سره ترتیـب کړی، قراني ایاتونه، د احادیثو متون مې په () قوسنو کې نیولي او حواله مې د متن پـه پـای کـې پـه APA سټایل سره ورکړې ده او خپل نظر او تعلیق مې چې په کوم ځای کې ورکړی هغه مې په [] قوسونو کـې ځای پر ځای کړی، ترڅو معلومه شي، چې دا د څېړونکي نظر او تبصره ده.

### ۴. د ماشوم پیژندنه

دا چې ماشومتوب د عمر یو له ډېرو مهمو او اساسي برخو څخه ګڼـل کېـږي دغـې دورې تـه د انکشـاف دوره هم ویل کېږي، په دغه دوره کې ماشوم د مشرانو په پل راوان وي، د مشرانو تقلید کوي، کـه زمـونږ کورنۍ او ټولنه ښه او سالمه وه اوسي پر ماشوم ډېر مثبت تاثیرات کوي او که برعکس وي، نو ماشـوم پـه ډېرو منفي لارو سوق کېږي.

دا چې زماموضوع د نبوي سنتو په رڼا کې د کوچنیانو حقوق ده، نو مخکې له دې چې خپلـې اصـلي موضوع ته دا خل شم غواړم په هغو موضوعاتو لنډ بحث وکړم چې زما موضوع سره مسـتقیم تـړاو لـري چې په کې د ماشوم پیژندنه او د ماشومتوب مرحلې شاملې دي.

علامه ابن‌الاثیر﷫ وایي: په عربي ژبه کې ماشوم ته (طفل) وایي چې اطفال یې د جمع لپـاره کـارول کېږي، طفل په لغت کې (صبي) ته وایي، چې د صبي کلمه د نارینـه او ښـځینه (مؤنـث او مـذکر) دواړو لپاره راځي او کارول کیږی. (ابن‌الاثیر، ۱۳۹۹ هـ: ج ۳، ص۱۳۰).

د شریعت په اصطلاح کې (صبي) ماشوم هغه چا ته ویل کېږي چې د ځوانۍ (رشد او بلوغ) مرحلې نه وي رسیدلی، یعنی د مور د ګېډې (نس) نه د زیږیدنې څخه پیـل او د ځـوانۍ تـر رسـیدو پـورې دوام کوي(ابن الاثیر، ۱۳۹۹ هـ: ج۳، ص۱۳۰).

البته د رشد او بلوغ مرحلې په اړوند د فقهاو ترمنځ اختلاف نظر موجود دی، مګر د بلوغ د عمـر او نښو په اړه اسلامي شریعت ځانګړي اصول بیان کړي دي، الله تعـالی فرمـایي: (وَإِذَا بَلَـغَ الْأَطْفَـالُ مِـنْكُمُ الْحُلُمَ فَلْيَسْتَأْذِنُوا كَمَا اسْتَأْذَنَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ)(النور: ۵۹) ژباړه: «او کلـه چـې ستاسـو ماشـومان د بلـوغ مرحلې ته ورسېږي، نو باید د نноتلو لپاره اجازه وغواړي، لکه څنګـه چـې تـر دوی مخکـې بالغـانو اجـازه غوښتله»(عثماني او دیوبندي، ۱۴۱۴هـ: ج۲، ص۳۳۶).

مفسرینو او فقهاوو د (الحُلُم) کلمه د بلوغ پـه معنـی تفسـیر کـړې ده، د بلـوغ طبیعـي نښـې پـه نجونو کې د حیض پیل او په هلکانو کې احتلام (انزال) دی، د دغو نښو د څرګندېدو وخـت پـه اشخاصـو کې یو شان نه وي، ځکه د جنس، چاپېریال، اقلیم او جسمي جوړښت له امله توپیر کوي، عمومـاً نجـونې د (۹) څخه تر (۱۳) کلنۍ او هلکان د (۱۳) څخه تر (۱۶) کلنۍ پورې د بلوغ نښې څرګنـدوي او نجـونې غالباً تر هلکانو مخکې بلوغ ته رسېږي(ابن‌قدامه، ۱۳۸۸هـ: ج ۴، ص۳۴۵-۳۴۶).

د بلوغ تر مخه ماشوم د اسلامي شریعت له نظره بشپړ شرعي مکلف نه ګڼل کېږي، له همدې امله د هغه په اړه ځانګړي احکام تطبیقېږي، لکه د جزایي مسؤلیت نه بشپړ تحقق، د ځینو حقوقي تصرفـاتو محدودیت او په ځینو مواردو کې د اقرار د اعتبار ځانګړي شرایـط، خـو کلـه چـې بلـوغ تحقـق ومـومي،

شخص د اسلامي شريعت له مخې د شرعي تکاليفو او حقوقو بشپړ اهل ګڼل کېږي او د نورو بالغو مسلمانانو په څېر پر هغه شرعي احکام نافذېږي(الجزيري، ۱۴۲۴هـ: ج۲، ص۳۱۴-۳۱۸).

د رشد د عمر په اړه په قرآن کريم کې مشخص کلونه نه دي ټاکل شوي، بلکې معيار يې د عقل، تدبير او د مال د سمې اداري وړتيا بلل شوې ده، الله تعالی فرمايي: (وَابْتَلُوا الْيَتَامَى حَتَّى إِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ فَإِنْ آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوا إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ). (النساء: ۶) ژباړه: يتيمان وازمويئ، تر هغه چې د نکاح عمر ته ورسېږي، که په هغوی کې مو رشد او پخوالی وليد، نو مالونه يې ور وسپارئ(عثماني او ديوبندي، ۱۴۱۴هـ: ج ۱، ص ۴۳۰).

همدارنګه الله تعالیﷻ فرمايي: (وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ)(القصص: ۱۴) ژباړه: او کله چې حضرت موسی عليه السلام د خپل ځواک او پخوالي مرحلې ته ورسېد(عثماني او ديوبندي، ۱۴۱۴هـ: ج۲، ص۴۸۹).

له دغو آيتونو څخه څرګندېږي چې قرآن کريم د رشد لپاره ټاکلی عددي عمر نه دی مشخص کړی، بلکې د عقل، تدبير او اهليت تحقق يې معيار ګرځولی دی، له همدې امله د جمهور فقهاوو په اند د رشد عمر د اشخاصو د فکري او عملي وړتيا له مخې توپير کوي او په ځانګړو کلونو پورې نه محدودېږي، دوی د (حَتَّى إِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ) او (فَإِنْ آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا) له الفاظو استدلال کوي چې د بلوغ ترڅنګ د رشد تحقق هم شرط دی(الجزيري، ۱۴۲۴هـ: ج۲، ص۳۱۴-۳۱۸).

البته د فقهاوو ترمنځ د رشد د اعظمي عمر په اړه اختلاف شته، د امام ابوحنيفهرحمه‌الله په اند که څه هم د شخص بشپړ رشد مخکې هم ثابتېدای شي، خو د مال سپارلو د اعظمي حد لپاره اتلس (۱۸) کاله مناسب عمر ګڼل شوی، په داسې حال کې چې ځينو نورو فقهاوو شل (۲۰)، يوويشت (۲۱) يا نولس (۱۹) کاله هم ياد کړي دي، د دغو اختلافاتو اساس د شرعي نصوصو عدم صراحت دی(الجزيري، ۱۴۲۴هـ: الفقه على المذاهب الأربعة، ج ۲، ص۳۱۴-۳۱۸)

## ۵. په نبوي سنتو کې د ماشوم حقوق

د اسلام مبارک دين ماشوم ته ډېر حقوق ورکړي چې په هيڅ دين او نظام کې نه دي ورکړل شوي او نه يې ساری ليدل کېږي. لکه څنګه چې ماشوم يا کوچنی د دنياوي ژوند ښکلا، د سترګو يخوالی او د زړونو ارام دی، همدغه شان په اينده کې د ټولنې واکدار مسؤل او د چارو پر مخ وړونکی دی.

له همدې وجې اسلام د ماشوم حقوقو ته ډېره توجه او پاملرنه کړې، حتی د تولد څخه مخکې مرحله کې يې حقوق ورته بيان کړي او په ارزښت ورته قايل دی، ترڅو په اينده کې ټولنې ته د يو سالم، صالح، مدبر او غښتلي شخصيت په توګه وړاندې او معرفي شي.

دا چې نوموړې موضوع هم په نبوی سنتو کې د کوچنی حقوق ته ځانګړې شوې، نو لازمه بولم چې د کوچني حقوق په دوه برخو يا مرحلو کې تر بحث او څېړنې لاندې ونيسم لومړی د تولد څخه مخکې مرحله او دويم د تولد څخه وروسته مرحله کې د کوچني يا ماشوم حقوق چې په لاندی ډول د دوه جلا عنوانونو په ترڅ کې ورڅخه يادونه کوم.

### ۵-۱. د زيږيدو څخه مخکې مرحله کې د کوچني حقوق

دا چې اسلام ماشوم ته ډېر ازښت ورکړی او په درنښت ورته قايل دی، نو له همدې وجې ورته د تولد څخه مخکې مرحله کې هم يو شمير حقوق ورکړي او په نظر کې نيولي چې بايد مراعت شي چې دا حقوق په لاندې ډول دي.

### ۵-۱-۱. د يوې صالحې مور ټاکنه

د ماشوم په روزنه کې تر ټولو ستره دوره هغه دوره ده کومه چې د مور او پلار په خوا کې تيروي، له همدې وجې اسلام د يوې نيکمرغه او صالحې کورنۍ په جوړلو اصرار کوي کومه چې د يو پرهيزگاره خاوند او نيک عمله ښځې نه منځته راتلای شي، لکه څنګه چې رسول‌اللهﷺ فرمايلي: «تُنْكَحُ المَرْأَةُ لأَرْبَعٍ لِمالِها ولِحَسَبِها وَلِجمالِها ولِدِينها فاظْفَرْ بِذاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَداكَ».(البخاري، ۱۴۰۷هـ: ج۵، ص۱۹۵۸، ح۴۸۰۲). ژباړه: «ښځه د څلورو شيانو له مخې په نکاح کېږي: د هغې د مال له امله، د هغې د نسب (کورنۍ) له امله، د هغې د ښکلا له امله او د هغې د دين له امله، نو ته ديندار ښځه غوره کړه، (که داسې ونه کړې) لاسونه دې په خاورو ککړ شه».

[له دې حديث څخه په ډاګه شوه، چې نبي‌کريمﷺ د نکاح لپاره د ښځې په انتخاب کې زيات اهميت دين ته ورکړی نه مال، نسب او ښايست ته، ترڅو د صلاح او سالم مور او پلار څخه يو نيک صلاحه، مدبر، پوه او غښتلی اولاد ټولنې ته د چارو د سمون لپاره دنيا ته راوړي.]

### ۵-۱-۲. د حمل په دوران کې ماشوم او مور ته يې خاصه پاملرنه کول

د اسلام مبارک دين د کوچني په خاطر د حمل په موده کې مورته هم په ځينو حقوقو قايل دی، لکه د مور صحت ته پاملرنه کول ترڅو ماشوم سقط او زيان نه کړي او جريمه يې ورته مقررکړی که چېرې چا دا کار وکړو. په دې اړه بريده د خپل پلار څخه روايت کوي چې يوه زنانه بله زنانه خذف (په څه شی ووهله) کړه، نو د هغې ماشوم زيان شو، نو نبي‌کريمﷺ ته ولاړه نو نبيﷺ د ماشوم لپاره (۵۰۰) پسونه پرې کېښودل او په همدې ورځې يې(خذف) څخه منع وکړه(البيهقي، ۱۴۱۴هـ: ج۸، ص۱۱۵، ح۱۶۱۹۷).

همدغه راز ربيعه د ابي عبدالرحمن نه روايت کوي چې وايي: تاوان د (۵۰) دينارو په اندازه ټاکل کېږي او يا هم (۶۰۰) درهم او د ازادې زنانه تاوان (۵۰۰) ديناره يا (۶۰۰۰) درهمه کېږي، امام مالک‌رحمه‌الله وايي: نوازاد ماشوم تاوان د ازادې زنانه لسمه برخه چې (۵۰) ديناره کېږي او يا هم (۶۰۰) درهم دی(الاصبحي، ۱۴۱۳هـ: ج۲، ص۳۲۳، ح۲۵۰۲).

مغيره د ابراهيم څخه روايت کوي او وايي: که چېرې يوه زنانه دوا وخوري او ماشوم زيان کړي، نو بايد يو غلام ازاد کړي او د ماشوم پلار ته تاوان هم ورکړي. (ابن ابی‌شيبه، ج۲۲، ص۱۴۹، ح۳۳۹).

[دا تول هغه دلايل دی چې د حمل په دوران کې د ماشوم او مور حقوقو ته اشاره کوي او تاکيد پرې کوي، چې د ضايع کيدو په صورت کې پرې جريمه او تاوان هم مقرر کړای شوی دی.]

### ۵-۱-۳. د جنين سقط حراموالی

د ماشوم د حقوقو څخه يو هم د ماشوم نه سقط کول (غورځول) دی چې دا حرام او ناروا عمل دی او دا هغه حق دی چې مخکې د تولد څخه اسلام ماشوم ته ورکړی، (الجنين بجيم ونونين وزن عظيم، حمل المرأة ما دام فی بطنها) جنين په يو جيم او دوه نونو سره په وزن د عظيم دی چې د ښځې بار ته ويلی کېږي، يعنی ماشوم چې تر کومه د هغې په خېټه کې وي او ځکه په دې نوم نمولی شي چې پټ وي، نو که چېرې ژوندی پيدا شو، نو هغه ماشوم دی او که مړ پيدا شو نو (سقط) دی(ابن حجر، ۱۳۷۹هـ: ج۷، ص۴۳۳).

د جنين سقط که چېرې د څلورو مياشتو وي، نو بايد د جنازې لمونځ وربانديې وشي، ځکه چې دا عمر د روح د اچولو دی، همدا قول د امام شافعي‌رحمه‌الله زوړ مذهب او د امام احمد بن‌حنبل‌رحمه‌الله او

اسحاق ﷬ څخه هم مشهور دی، اما د امام شافعي﷬ په نوي مذهب کې وايي: بايد روح په کې وي، نو دوی وايي: چې يا وژاړي، يا هم وخوريږي او ساه واخلي(ابن‌حجر، ۱۳۷۹هـ: ج۱، ص۳۵۴).

(عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ امْرَأَةً خَذَفَتِ امْرَأَةً فَأَسْقَطَتْ، فَرُفِعَ ذَلِكَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجَعَلَ فِي وَلَدِهَا خَمْسَمِائَةِ شَاةٍ، وَنَهَى يَوْمَئِذٍ عَنِ الْخَذْفِ قَالَ أَبُو دَاوُدَ: كَذَا الْحَدِيثُ خَمْسُمِائَةٍ، وَالصَّوَابُ مِائَةُ شَاةٍ)(البيهقي، ۱۴۱۴هـ: ج۸، ص۲۰۱، ح۱۶۴۱۹) او(النسائي، ۱۴۲۱ هـ: ج۶، ص۳۵۹، ح۶۹۸۸). ژباړه: «بريده د خپل پلار څخه روايت کوي، چې يوه زنانه بله زنانه خذف (په څه شي ووهله) کړه، نو د هغې ماشوم زيان شو، نو نبي ﷺ ته ولاړه نو نبي ﷺ د ماشوم لپاره (۵۰۰) پسونه پرې کېښودل او له همدې ورځې يې(خذف) څخه منع وکړه، ابو داؤد وايي چې حديث کې همدا (۵۰۰) صحيح راغلي دي تر (۱۰۰) صحيح پسونه دي».

امام مالک﷬ وايي: «قَالَ مَالِكٌ: وَلاَ حَيَاةَ لِلْجَنِينِ إِلاَّ بِالاِسْتِهْلاَلِ، فَإِذَا خَرَجَ مِنْ بَطْنِ أُمِّهِ فَاسْتَهَلَّ، ثُمَّ مَاتَ فَفِيهِ الدِّيَةُ كَامِلَةً، وَنَرَى أَنَّ فِي جَنِينِ الأَمَةِ عُشْرَ ثَمَنِ أُمِّهِ»(الشيباني، ۱۴۱۳هـ: ج۲، ص۳۲۳، ح۲۵۰۵). ژباړه: «د جنين لپاره ژوند نه ثابتيږي مگر د استهلال (د زيږون پر مهال ژړا يا غږ) په وسيله، نو که چېرې ماشوم د خپلې مور له نس څخه راووځي او ژړا وکړي، بيا وروسته مړ شي، نو په هغه کې بشپړ ديت لازم کيږي. او مونږ دا نظر لرو چې د وينځې (امې) د جنين په اړه د هغې د بيې لسمه برخه تاوان تاکل کيږي».

مغيره د ابراهيم څخه روايت کوي او وايي: «عَنْ مُغِيرَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: فِي امْرَأَةٍ شَرِبَتْ دَوَاءً فَأَسْقَطَتْ، قَالَ: تُعْتِقُ رَقَبَةً، وَتُعْطِي أَبَاهُ غُرَّةً»(ابن ابي‌شيبه، ، ج۵، ص۳۹۲ ، ح۲۷۲۷۷) ژباړه: «که چېرې يوه زنانه دوا وخوري او ماشوم زيان کړي، نو بايد يو غلام ازاد کړي او د ماشوم پلار ته تاوان هم ورکړي».

ربيعه د ابي عبدالرحمن نه روايت کوي چې وايي: «الْغُرَّةُ تُقَوَّمُ خَمْسِينَ دِينَاراً، أَوْ سِتَّ مِئَةِ دِرْهَمٍ، وَدِيَةُ الْمَرْأَةِ الْحُرَّةِ الْمُسْلِمَةِ خَمْسُ مِئَةِ دِينَارٍ، أَوْ سِتَّةُ آلاَفِ دِرْهَمٍ» تاوان د (۵۰) دينارو په اندازه ټاکل کيږي او يا هم (۶۰۰) درهمه او د ازادې زنانه تاوان (۵۰۰) ديناره يا (۶۰۰۰) درهمه کيږي»(الشيباني، ۱۴۲۵هـ: ج۵، ص۱۲۵۳، ح ۳۱۶۹).

امام مالک﷬ وايي: «د نوزاد ماشوم تاوان د ازادې زنانه لسمه برخه دی، چې (۵۰) ديناره کيږي او يا هم (۶۰۰) درهمه، نوموړی وايي: داسې څوک مې نه دی ليدلی او نه مې اوريدلي چې د ماشوم په تاوان کې مخالف وي او زياتوي اوريدلي مې دي که چېرې يو ماشوم ژوندی پيداشي او بيا مړ شي نو بيا به کامل ديت ورکوي»(الشيباني، ۱۴۱۳هـ: ج۲، ص ۳۲۳، ح۲۵۰۳ - ۲۵۰۴).

ټولو علماؤ په دې اتفاق کړی چې ديت به په درې کلونو کې ورکوي، ترڅو د جمع کولو توان پيدا کړي او په دې موده کې راټول کړای شی(ابن بطال، ۱۴۲۳هـ: ج۸، ص۵۵۰).

[په پايله کې ويلای شو چې اسلام د انسان د ژوند د ساتنې لپاره له پيل څخه تر پايه پورې واضح اصول لري او د جنين سقط يې پرته له جدي شرعي اړتيا څخه حرام گرځولی دی، ترڅو د انسان د ژوند سپېڅل تيا خوندي پاتې شي.]

**۵-۱-۴. حاملې ښځې ته د روژې د خوړلو اجازه**

که چېرې ښځه حامله وي او رمضان مياشت پرې را ورسيږي او ښځه دا وس او توان نه لري چې روژه ونيسي او يا د ماشوم صحت ته د ضرر رسيدو ويره موجوده وي، نو په دې وخت کې اسلام حاملې ښځې ته اجازه ورکړې چې روژه وخوري د ماشوم د صحت او ضرر څخه د ژغورنې په منظور.

حدیث کې راځي: د ابن عمرﷺ څخه پوښتنه وشوه که زنانه حامله وي او په خپل ماشوم وویریږي په روژه کې چې ضایع او خراب به شي له وجې د روژې نیولو؟ نو وی ویل: روژه دې ماته کړي او د هرې ورځې په بدل کې دې یو مسکېن ته د یو وخت خوراک ورکړي، ابو سعید وایي: امام شافعيﷺ وویل: چې امام مالکﷺ او د علم خاوندان ورباندې د روژې قضایي هم روالي او امام مالکﷺ وایي: ځکه به قضا راوړي چې اللهﷻ فرمایي: «فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضاً أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ»(البقرة: ۱۸۴) او (البیهقي، ۱۴۱۴هـ: ج۴، ص۳۸۹، ح۸۰۷۹). ژباړه: «پس هر څوک چې وي له تاسې څخه ناجوړ یا (روان) وي په سفر (او روژه وخوري) نو (پر ده باندې لازم دي روژه نیول) په شمار (د خوړلیو شویو ورځو) له ورځو نورو»(عثماني او دیوبندي، ۱۴۱۴هـ: ج۱، ص۱۳۵).

امام شوکاني په نیل الاوطار کې وایي: د حاملې او تي ورکوونکې زنانه لپاره چې په خپل ماشوم وویریږي روژه ماتول جایز دي چې دا د ډیرو علماؤ مذهب او مسلک دی(الشوکاني، ۱۴۱۳هـ: ج۴، ص۲۷۳).

### ۵-۱-۵. د حاملې ښځې د زنا حد ځنډول

هغه ښځې چې حامله وي په هغوی باندې د جزاګانو تطبیق ځنډول کېږي له وجې د حمل او ماشوم څخه چې ضایع نه شي خصوصاً هغه جزاګانې چې په جسم باندې تطبیق کېږي.

په دې اړه حدیث کې راځي: «عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: جَاءَ مَاعِزُ بْنُ مَالِكٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، طَهِّرْنِي، فَقَالَ: «وَيْحَكَ، ارْجِعْ فَاسْتَغْفِرِ اللهَ وَتُبْ إِلَيْهِ»، قَالَ: فَرَجَعَ غَيْرَ بَعِيدٍ، ثُمَّ جَاءَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، طَهِّرْنِي، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَيْحَكَ، ارْجِعْ فَاسْتَغْفِرِ اللهَ وَتُبْ إِلَيْهِ»، قَالَ: فَرَجَعَ غَيْرَ بَعِيدٍ، ثُمَّ جَاءَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، طَهِّرْنِي، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مِثْلَ ذَلِكَ حَتَّى إِذَا كَانَتِ الرَّابِعَةُ، قَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ: «فِيمَ أُطَهِّرُكَ؟» فَقَالَ: مِنَ الزِّنَى، فَسَأَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَبِهِ جُنُونٌ؟» فَأُخْبِرَ أَنَّهُ لَيْسَ بِمَجْنُونٍ، فَقَالَ: «أَشَرِبَ خَمْرًا؟» فَقَامَ رَجُلٌ فَاسْتَنْكَهَهُ، فَلَمْ يَجِدْ مِنْهُ رِيحَ خَمْرٍ، قَالَ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَزَنَيْتَ؟» فَقَالَ: نَعَمْ، فَأَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ، فَكَانَ النَّاسُ فِيهِ فِرْقَتَيْنِ، قَائِلٌ يَقُولُ: لَقَدْ هَلَكَ، لَقَدْ أَحَاطَتْ بِهِ خَطِيئَتُهُ، وَقَائِلٌ يَقُولُ: مَا تَوْبَةٌ أَفْضَلَ مِنْ تَوْبَةِ مَاعِزٍ، أَنَّهُ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَضَعَ يَدَهُ فِي يَدِهِ، ثُمَّ قَالَ: اقْتُلْنِي بِالْحِجَارَةِ، قَالَ: فَلَبِثُوا بِذَلِكَ يَوْمَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً، ثُمَّ جَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُمْ جُلُوسٌ، فَسَلَّمَ ثُمَّ جَلَسَ، فَقَالَ: «اسْتَغْفِرُوا لِمَاعِزِ بْنِ مَالِكٍ»، قَالَ: فَقَالُوا: غَفَرَ اللهُ لِمَاعِزِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَقَدْ تَابَ تَوْبَةً لَوْ قُسِمَتْ بَيْنَ أُمَّةٍ لَوَسِعَتْهُمْ»، قَالَ: ثُمَّ جَاءَتْهُ امْرَأَةٌ مِنْ غَامِدٍ مِنَ الْأَزْدِ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ، طَهِّرْنِي، فَقَالَ: «وَيْحَكِ ارْجِعِي فَاسْتَغْفِرِي اللهَ وَتُوبِي إِلَيْهِ» فَقَالَتْ: أَرَاكَ تُرِيدُ أَنْ تُرَدِّدَنِي كَمَا رَدَّدْتَ مَاعِزَ بْنَ مَالِكٍ، قَالَ: «وَمَا ذَاكِ؟» قَالَتْ: إِنَّهَا حُبْلَى مِنَ الزِّنَى، فَقَالَ: «آنْتِ؟» قَالَتْ: نَعَمْ، فَقَالَ لَهَا: «حَتَّى تَضَعِي مَا فِي بَطْنِكِ»، قَالَ: فَكَفَلَهَا رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ حَتَّى وَضَعَتْ، قَالَ: فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «قَدْ وَضَعَتِ الْغَامِدِيَّةُ»، فَقَالَ: «إِذًا لَا نَرْجُمُهَا وَنَدَعُ وَلَدَهَا صَغِيرًا لَيْسَ لَهُ مَنْ يُرْضِعُهُ»، فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ، فَقَالَ: إِلَيَّ رَضَاعُهُ يَا نَبِيَّ اللهِ، قَالَ: فَرَجَمَهَا». (النیسابوري، بدون تاریخ: صحیح مسلم، ج ۳ ص ۱۳۲۱، رقم الحدیث ۱۶۹۵) او (البیهقي، ۱۴۱۴هـ: سنن الکبری، ج ۸ ص ۳۷۲، رقم الحدیث ۱۶۹۲۸). ژباړه: له بریده څخه روایت دی، هغه له خپل پلار څخه روایت کوي چې ویې ویل: ماعز بن مالک د رسول اللهﷺ حضور ته راغی او ویې ویل: ای د الله رسوله! ما پاک کړه، رسول الله ﷺ وفرمایل: افسوس پر تا! بېرته لاړ شه، له الله څخه بښنه وغواړه او توبه وباسه، هغه لږ لرې لاړ، بیا بېرته راغی او ویې ویل: ای د الله رسوله! ما پاک کړه، رسول الله ﷺ بیا هم وفرمایل: افسوس پر تا!

ببرته لاړ شه، له الله څخه بښنه وغواړه او توبه وباسه، هغه بیا لږ لرې لاړ، وروسته یو ځل بیـا راغـی او هماغه غوښتنه یې وکړه، رسول الله ﷺ هماغه ځواب ورکړ، تر دې چې په څلورم ځل یې ورته وفرمایـل: زه دې له څه شي څخه پاک کړم، هغه وویل: له زنا څخه، رسول الله ﷺ وپوښتل: ایا دا سړی لېونی دی، صحابه وو ویل چې نه، لېونی نه دی، بیا یې وفرمایل: ایا شراب یې څښلي دي؟ یو سړی ورپاڅېد، د هغـه د خولې بوی یې وکوت، خو د شرابو هېڅ بوی یې ترې احساس نه کړ، بیا رسول اللـه ﷺ تـرې وپوښـتل: ایا رښتیا دې زنا کړې ده؟ هغه وویل: هو، نو رسول الله ﷺ امر وکړ او هغه ته د سنګسـار (رجـم) سـزا ورکړل شوه، له دې پېښې وروسته خلک په دوو ډلو ووېشل شول: یوې ډلې ویل: هغـه هـلاک شـو، ګناه یې پر ده راچاپېره شوه او بلې ډلې ویل: د ماعز له توبې څخه غوره توبه نشته، ځکه هغه خپله د رسـول الله ﷺ حضور ته راغی، خپل ځان یې د الله د حکم لپاره وسپاره او غوښتنه یې وکړه چې د سنګسار په وسیله پاک شي، راوي وايي: خلک دوه یا درې ورځې پر همدې خبرو بوخت وو، وروسته رسـول اللـه ﷺ راغی، په داسې حال کې چې خلک ناست وو، سلام یې واچـاوه، کښېناسـت او ویـې فرمایـل: د مـاعز بـن مالک لپاره له الله څخه بښنه وغواړئ، هغوی وویل: اللـه دې مـاعز بـن مالـک وبښـي، رسـول اللـه ﷺ وفرمایل: هغه داسې توبه کړې ده چې که د یوې ټولې امت پر خلکو ووېشل شي، ټولو ته به بسنه وکړي، وروسته چې د رسول الله ﷺ سره ناست وم غامدیه چې د ازد د قبیلـې څخـه وه راوسـتل شـوه، نـو وی ویل: یا د الله رسوله ما زنا کړې نو نبي کریم ﷺ واپس کړه، نو وی ویل چې ایا ته غواړې چې مـاهم د ماعز په څیر واپس کړې په الله ﷻ قسم چې حامله یم نو نبي ﷺ ورته وفرمایل: ولاړه شه ترڅو چې دا وزیږوې، نو بیا بل وخت راغله چې ماشوم یې زیږولی وو، نو بیا ورتـه نبـي ﷺ وویـل: ولاړه شـه ترڅـو ماشوم له تي جدا (بیل) شي، نو هغه بله ورځ راغله او ماشوم یې راوست چې له شیدو (تي) یې جدا کـړی ؤ او د ماشوم په لاس کې یوه ټوټه ډوډۍ هم وه چې خوړلـه یـې، نـو نبـي ﷺ د مسـلمانانو لـه ډلـې یـو مسلمان ته وسپارله او بیا یې امر وکړ، چې تر سینو پورې دې ورته کنده وویستل شي او بیـا یـې قـوم تـه امر وکړ او هغوی رجم کړه».

## ۵-۱-۶. د طلاقې شوې حاملې ښځې نفقه

هغه ښځې چې طلاقې شوې وي او حامله وي، نو د هغو نفقه په اتفاق د علماؤ سره د حمل تـر وضـعې پورې په پخواني مېړه ده. حدیث کې راځي: حماد د ابراهیم څخـه روایـت کـوي (الْمُطَلَّقَـةُ ثَلاَثًـا وَالْمُـولَى عَنْهَا وَالْمُخْتَلِعَةُ وَالْمُلاَعَنَةُ وَهُنَّ حَوَامِلُ لَهُنَّ النَّفَقَةُ) چې، د درې طلاقونو طلاقې شوې ښـځې او یـا خلعـه اخیستونکې ښځې او یا هغه چې ملاعنه شوې وي نفقه ورته باید ورکړل شي په دې شرط چې حامله وي. (ابن ابي‌شیبه، ج۴، ص ۱۳۸، ح۱۸۶۷۵).

همدرانګه د عمر رضي الله عنه نه روایت دی «عَنْ عُمَرَ، وَعَبْدِ اللهِ قَالاَ: الْمُطَلَّقَةُ ثَلاَثًا لَهَا السُّكْنَى وَالنَّفَقَةُ) چـې په درې طلاقو سره طلاقه شوې ښځې لپـاره کـور او نفقـه ورکـول شـته دي»(ابـن ابي شـیبه، ج۴، ص۱۳۶، ح۱۸۶۵۴).

عمر بن‌الخطاب رضي الله عنه به په خپل خلافت کې د داسې ښځې لپـاره کـور او نفقـه دواړه ورکول(القطـان، ۱۴۲۲ هـ: ۲۱۳).

دغه راز علماوو په دې اجماع کړې ده چې هغه ښځه چـې طلاقـه شـوې وي او لـه خپـل مېـړه څخـه حامله وي، نو د هغې نفقه پر خپل مېړه واجبه ده(الطحاوي، ۱۴۱۴ هـ: ج۳، ص۷۲)، ځکـه چـې اللـه پـه

قران کريم کې فرمايي: «وَإِنْ كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنْفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ»(الطلاق: ۶) ژباړه:«او که هغوی اميندوارې وي، نو پر هغوی مصرف وکړئ تر هغه چې خپل حمل وزيږوي».

**۵-۲. د زيږيدو څخه وروسته مرحله کې د کوچنی حقوق**

لکه څنګه چې د اسلام مبارک دين د ماشوم د پيدايښت څخه مخکې مرحله کې د کوچني حقوق بيان کړي او په ارزښت ورته قايل دی کوم چې مخکې ورڅخه يادونه وشوه، همدارنګه د تولد څخه ووسته يې هم يو شمير احکام وضع کړي چې د ماشوم د ولادت پورې تړاو لري چې هغه په لاندی ډول دي.

**۵-۲-۱. د کوچني په ولادت خوشحاله کېدل او زيری ورکول**

د ماشوم په زيږيدلو خوشحاليدل او زيری ورکول يو مستحب کار او عمل دی، لکه په قران کريم کې چې الله رب العزتﷻ د يحيی بن زکريا(ع) د تولد په اړه يادونه کړې الله رب‌العزتﷻ فرمايي: «فَنَادَتْهُ الْمَلَائِكَةُ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي فِي الْمِحْرَابِ أَنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيَى مُصَدِّقاً بِكَلِمَةٍ مِنْ اللَّهِ وَسَيِّداً وَحَصُوراً وَنَبِيّاً مِنْ الصَّالِحِينَ»(ال عمران: ۳۹). ژباړه: «نو ورناري کړې ده (زکريا ته) پريښتو (جبريل) حال دا چې دی ولاړ ؤ او لمونځ يې کاوه په محراب (عبادت خانه) کې چې بې شکه الله زيری کوي په تا د يحيی (چې ستا زوی به وي) حال دا چې تصديق کوونکې به وي په يوه کلمې سره چې له (طرفه د) الله ده حال دا چې سردار به وي (د خپل قوم په علم، حلم او تقوی سره) او ډير منع راوړونکی به وي (له شهواتو سره له قدرته) او نبي به وي له (ډلې د) صالحانو نه (چې نه به خطا کوي او نه به ګناه ته قصد کوي)» (عثماني او ديوبندي، ۱۴۱۴هـ: ج۱، ص۲۸۰).

[البته دغه زيری او خوشحالي کول به پرته له کوم توپير څخه وې، د هلک او انجلۍ دواړو په هکله يو شان وي.]

**۵-۲-۲. په غوږ کې ورته اذان کول**

د ماشوم د تولد نه وروسته به د ماشوم په ښي غوږ کې اذان او په چپ غوږ کې اقامت ويل کېږي، حديث کې راځي: «أنّ النبيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَذَّنَ فِي أُذُنِ الحَسَن يوم وَلَدَتْه» چې رسول اللهﷺ د حسن بن‌عليؓ غوږ کې اذان وکړ(البيهقي، ۱۴۱۰هـ: ج۱۱، ص۱۰۴، ح۸۲۵۲) او (السجستانی، ج۴، ص۳۲۸، ح۵۱۰۵).

دغه راز رسول اللهﷺ فرمايلي دي: «مَنْ وُلِدَ لَهُ مَوْلُودٌ فأذَّنَ فِي أُذُنِهِ اليُمْنَى، وأقامَ فِي أُذُنِهِ اليُسْرَى لَمْ تَضُرّهُ أُمُّ الصّبْيانِ» د چا چې ماشوم وزيږي، نو د هغه په ښي غوږ کې دې اذان وکړي او په چپ غوږ کې اقامة، نو (امّ‌الصبيان) يعني ضرر رسوونکې بلا به هغه ته زيان ونه رسوي»(البيهقي، ۱۴۱۰هـ: ج۱۱، ص۱۰۶، ص۸۲۵۴).

علامه ابن قيمؒ د زيږيدلي ماشوم په غوږ د اذان کولو د حکمتونو په اړه وايي: «تر ټولو لومړی د انسان غوږ ته هغه کلمې رسيږي چې د الله د لويوالي او عظمت بيان کوي او د ايمان هغه شاهدي ده چې انسان پرې په اسلام کې داخليږي، نو دا داسې ده لکه ماشوم ته چې د دنيا ته د راتګ سره سم د اسلام نښې ور زده کيږي، لکه څنګه چې د مرګ پر وخت ورته د توحيد کلمه ويل کيږي او دا هيڅ عجبه خبره نه ده چې د اذان اغېز د ماشوم زړه ته ورسيږي او پرې اثر وکړي، که څه هم هغه يې نه احساسوي، له دې سره بله ګټه دا ده چې شيطان د اذان له کلمو څخه تښتي، حال دا چې هغه د ماشوم د پيدا کېدو په طمعه وي تر څو ورسره مل شي، د هغه ازمويني له مخې چې الله ټاکلې ده، نو شيطان داسې خبرې اوري چې هغه کمزوری او غوسه کوي، په هغه وخت کې چې له ماشوم سره د هغه د

اړيکې پيل وي او په دې کې بله معنی دا هم ده چې د ماشوم لومړی بلنه د الله لورې ته، د اسلام دين ته او عبادت ته وي، نه د شيطان لورې ته، لکه څنګه چې انسان په فطري ډول پيدا شوی وي، مخکې له دې چې شيطان يې له فطرت څخه واړوي»(ابن‌القيم، ۱۳۹۱هـ: ۳۱).

**۵-۲-۳. تحنيک د حلق لوندول په خرما سره**

د ماشوم له زيږيدنې وروسته ښه خبره دا ده چې خرما په خوله کې ښه ميده شي او بيا ماشوم ته ورکړل شي، ځکه له ابو موسی اشعريؓ څخه روايت دی هغه وايي: «عَنْ أَبِي مُوسَى رضي الله عنه قَالَ: وُلِدَ لِي غُلَامٌ، فَأَتَيْتُ بِهِ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم -، فَسَمَّاهُ إِبْرَاهِيمَ، فَحَنَّكَهُ بِتَمْرَةٍ، وَدَعَا لَهُ بِالْبَرَكَةِ وَدَفَعَهُ إِلَيَّ. وَكَانَ أَكْبَرَ وَلَدِ أَبِي مُوسَى»(البخاري، ۱۴۲۲هـ: ج۷، ص۸۳، ح۵۴۶۷). ژباړه: «زما ځوی وشو او ما نبي‌کريم ﷺ ته راوړ، نو هغه پرې ابراهيم نوم کېښود او بيا يې په خپله خوله کې خرما ميده کړه او ماشوم ته يې په خوله کې ورکړه د برکت دعا يې ورته وکړه او بيرته يې ماته راکړ».

امام نوويؒ د دې حديث په تشريح کې وايي: «نوي زيږيدلي ماشوم ته د ژول شوې خرما ورکولو باندې ټولو علماؤ اتفاق کړی، که چېرې خرما نه وي، نو د خرما په څېر او يا هم هر خوږ شی چې پيدا شي، نو دغه شخص دې وژويي چې ښه ميده شي، نو بيا دې د ماشوم خوله خلاصه کړي او په خوله کې به يې ورته واچوي»(النووي، ۱۳۹۲ هـ: ج۱۴، ص۱۲۲).

[له دې حديث څخه لاندې فايدې ترلاسه کيږي:

۱: په اجماع د علماؤ سره د نوي زيږيدلي ماشوم تحنيک کول (په خوله کې د ژول شوې خوږې مادې ايښودل) سنت دي.

۲: دا تحنيک به ماشوم ته يو صالح سړی يا صالحه ښځه کوي.

۳: د صالحانو له آثارو، د هغوی له لاړو او له هغوی سره تړلو شيانو څخه د برکت اخيستل.

۴: مستحبه ده چې تحنيک دې په خرما وشي، که خرما نه وي نو که په بل څه شي هم وشي تحنيک حاصلېږي، خو خرما غوره ده.

۵: دا هم مستحب ده چې د ماشوم نوم ايښودل يو صالح کس ته وسپارل شي تر څو هغه ورته مناسب نوم وټاکي.]

**۵-۲-۴. د ماشوم د ويښتانو خريل**

کله چې ماشوم پيدا شي نو په اوومه ورځ يې  بايد وښتان وخريل شي او د هغه ويښتو د وزن په اندازه به د سپينو زرو صدقه ورکوي حديث کې راځي: «شَعَرَ حَسَنٍ، وَحُسَيْنٍ، وَزَيْنَبِ، وَأُمِّ كُلْثُومَ، فَتَصَدَّقَتْ بِوَزْنِ ذَلِكَ فِضَّةً»(البيهقي، ۱۴۱۰هـ: ج۱۱، ص ۱۱۲، ح۸۲۶۲). ژباړه: «د رسول‌اللهﷺ لور فاطمهؓ د حسن، حسين، زينب او کلثوم ويښتان وزن کړل او د ويښتانو د وزن په اندازه يې د سپينو زرو صدقه ورکړه».

[په روغتيايي لحاظ د دې کار (د ويښتانو خريل) ډيرې ګټې شته، لکه د ماشوم د سر نه ناپاکې لرې کول، د سر د ويښتانو د سوريو خلاصيدل، د ضعيفو ويښتانو لرې کېدل ترڅو پرځای يې، نور قوي ويښتان راپورته شي او ټولنيزه ګټه يې د سپينو زرو صدقه ده، چې غريبانو باندې خوشحالي راوستل دي.]

**۵-۲-۵. د ښه نوم ايښودل**

د ماشوم د تولد نه وروسته په والدينو يو حق هم د ښه نوم ايښودل دي، په والدينو لازمه ده چې په خپلو اولادونو ښه نوم کېږدي چې په دغه نوم ورته غږ کېږي او په ټولنه کې پرې ياديږي او دغه نوم بايد

د اسلام سره تړاو ولري نیک صفته او معنی لرونکې نوم وي، حدیث کې راځي رسول اللهﷺ فرمایلي: «إِنَّكُمْ تُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِأَسْمَائِكُمْ وَأَسْمَاءِ آبَائِكُمْ فَأَحْسِنُوا أَسْمَاءَكُمْ»(السجستاني، ج۴، ص۴۴۲، ح۴۹۵۰) او (البیهقي، ۱۴۱۰هـ: ج۱۱، ص۱۱۶، ح۸۲۶۵). ژباړه: «تاسو به د قیامت په ورځ په خپلو نومونو او ستاسو د پلارانو په نومونو رابلل کېږئ، نو خپل نومونه خایسته کړئ، یعنی ښایسته نومونه کېږدئ».

همدغه راز بل حدیث کې راځي رسول اللهﷺ فرمایلي: «تَسَمَّوْا بأسماءِ الأنْبِياءِ وأحَبُّ الأسْماءِ إلى الله تعالى عبدُالله وعبدُالرَّحْمنِ وأصْدَقُها حارِثٌ وهَمَّامٌ وأقْبَحُها حَرْبٌ ومُرَّةٌ»(امام‌احمد بن‌حنبل، ۱۴۲۱هـ: ج۳۱، ص۳۷۷، ح۱۹۰۳۲) او(البیهقي، ۱۴۲۴هـ: ج۹ ص۵۱۴، ح ۱۹۳۰۷). ژباړه: «د پیغمبرانو په نومونو سره نومونه کېږدئ او الله ته خوښ نومونه عبدالله او عبدالرحن دی او رښتیني نومونه حارث او همام دی او بد نومونه حرب او مرة دي».

رسول اللهﷺ به هغه نومونه خوښول چې په هغې کې به د الله پاک د بنده ګۍ ذکر شوی وو.

[ که د ماشوم نوم ښه کېښودل شي، نو په راتلونکي ژوند کې به په ټولنه کې د ارام احساس کوي او په خپل وجدان کې به د خپل نوم په اړه فکر کوي. د عزت او نفسي احترام احساس به کوي او مهمه لادا ده چې د خلکو د مسخرو به هم خلاص وي، اما که برعکس خراب نوم کېښودل شي، نو د کمزورۍ، جلاوالي او په ټولنه کې به د خلکو د مسخرو نه په ویره کې ژوند تیروي او د خجالت احساس به کوي.]

### ۵-۲-۶. عقیقه پرې کول او د عقیقې حکمت

عقیقه په اصل کې د ماشوم د سر هغه ویښتانو ته ویل کېږي، چې کله څاروی ذبح کېږي او دغه ویښته خریل کېږي دا چې د ویښتانو د خریلو په وخت کې څاروی ذبح کېږي، نو له همدې وجې دې څاروي ته هم عقیقه ویل کېږي. علماو وایي: «عقیقه په اصل کې هغه وېښته دي چې د ماشوم پر سر وي، هغه حیوان (پسه یا وزه) چې حلالېږي عقیقه بلل کېږي، ځکه چې د هغې د حلالولو پر مهال د ماشوم سر خرییل کېږي»(ابن‌بطال، ۱۴۲۳ هـ: ج۵، ص۳۷۴).

طبري وایي: «عربو هغه قرباني چې دوی به د همدې وېښتو د خرییل کېدو پر وخت حلالوله، د هماغه وېښتو په نوم ونوموله، لکه څنګه چې هغوی (نجو) ته (عذره) وایي، حال دا چې (عذره) په اصل کې غایطه موادو ته ویل کیږي او (نجو) د غایطې موادو د وتلو عمل ته ویل کیږي، نو عربان کله کله د اسلوب له مخې د یو شي نوم پر بل شي هم ږدي له وجې د تړاو نه، نو له همدې وجې هغه څاروی چې د ویښتانو د خریلو په وخت کې ذبحه کېږي، په عقیقې سره ونومول شو»(ابن بطال، ۱۴۲۳هـ: ج۵ ص۳۷۴).

د جابرﷺ نه روایت دی «عَقَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ وَخَتَنَهُمَا لِسَبْعَةِ أَيَّامٍ» چې رسول اللهﷺ د حسن او حسینﷺ نه عقیقه وکړه او سنت یې کړل، په اومه ورځ باندې(البیهقي، ۱۴۲۴هـ: ج ۸ ص۵۶۲، ح ۱۷۵۶۳).

د بریده نه روایت دی (عن بريدة، العقيقة تذبح لسبع أو لأربع عشرة أو لإحدى وعشرين) چې رسول اللهﷺ وفرمایل: عقیقه د (۷) یا (۱۴) یا (۲۱) ورځو لپاره وي(الامیر، ۱۴۳۲هـ: ج۷، ص۳۹۰، ح۵۶۸۰) او (الهندي، ۱۴۰۱هـ: ج۱۶، ص ۴۳۳، ح۴۵۲۹۱).

د غه راز د انسﷺ نه روایت دی، (عَقَّ عَنْ نَفْسِهِ بَعْدَمَا بُعِثَ نَبِيًّا) چې رسول اللهﷺ د خپل ځان څخه هم عقیقه وکړه چې کله په پیغمبرۍ مبعوث شو(الطبراني، ۱۴۱۵هـ: ج۱، ص۲۹۸، ح۹۹۴) او (الهیثمي، ۱۴۱۴هـ: ج۴، ص۵۹، ح ۶۲۰۳).

که ماشوم له اوومې ورځې مخکې مړ شو، نو عقيقه ورڅخه ساقطيږي او که بل څوک له ماشوم څخه عقيقه وکړي هم صحيح ده، لکه څنگه چې نبي کريمﷺ د خپل لمسي حسن څخه عقيقه کړې ابو رافعﷺ وايي: چې فاطمېﷺ کله حسن وزيږولو نو نبي کريمﷺ ته يې وويل: ايا له حسن څخه عقيقه وکړم؟ هغه ورته وويل چې نه، مگر د هغه سر ويښتان وخريه او د هغې په اندازه سپين زر صدقه ورکړه، نودا دليل شو چې بل څوک هم له يو ماشوم څخه عقيقه کولای شي(الهيثمي، ۱۴۱۴هـ: ج۴، ص۵۷، ح۶۱۸۱).

مگر ځينې علماء وايي: «چې نه يې شي کولی ځکه چې نبي کريمﷺ د حسن نيکه وو او نيکه د پلار په مقام وي، نو ځکه دا عقيقه د حسن څخه صحيح وه»(الصنعاني، ۱۹۶۰م: ج۴، ص۹۹).

ظاهري علماء او حسن بصريؒ وايي: «چې عقيقه واجب ده، جمهور فقهاء وايي: چې سنت ده اما حنفي فقهاء وايي: چې نه واجب او نه هم نست ده، بلکې دا يو نفلي عمل دی(الشوکاني، ۱۹۸۷م: ، ج۲، ص۳۵۱).

عايشهﷺ وايي: «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَمَرَهُمْ: أَنْ يُعَقَّ عَنْ الْغُلَامِ شَاتَانِ مُكَافِئَتَانِ، وَعَنْ الْجَارِيَةِ شَاةٌ) چې رسول اللهﷺ امر کړی چې د نارينه ماشوم څخه دوه پسونه عقيقه کړئ او له زنانه ماشومې څخه يو پسه عقيقه کړئ»(الصنعاني، ۱۹۶۰م: ج ۶، ص ۳۲۷، ح۱۲۷۴).

همدغه مذهب د امام شافعيؒ، ابو ثور، ابو احمد او داؤدؒ دی، اما امام مالکؒ وايي: «چې يو پسه د نارنه او ښځينه څخه صحيح دی، راجحه او غوره خبره دا ده چې د نارينه ماشوم لپاره دوه پسونه ذبح شي او ښځينه ماشومې څخه يو پسه ذبح شي او هر چې نبي کريم (ص) يو پسه عقيقه کړی ؤ د حسن لپاره هغه د دې په خاطر چې يو هم صحيح دی، مگر افضل خبره دوه دي»(الصنعاني، ۱۹۶۰م: ج۶، ص ۳۲۸ – ۳۳۰).

دغه راز ام کزر خبر ورکړی چې ما د رسول اللهﷺ نه د عقيقې پوښتنه وکړه نو هغه وويل: چې د نارينه لپاره دوه پسونه او د ښځينه لپاره يو پسه او دا پروا نه کوي چې دا پسونه نارينه وي که ښځينه. (الطبراني، ۱۴۰۴هـ: ج۲۵، ص ۱۶۶، ح ۲۱۵۲۳) او (الترمذي، ۱۹۹۸م: ج۴، ص۹۶، ح۱۵۱۳).

عقيقه ډېر حکمتونه لري چې يو شمير يې په لاندې توکه وړاندې کولی شم: ۱) عقيقه الله تعالی ته د نږدې کېدو وسيله ده او د اولاد د نعمت په بدل کې د هغه شکر ادا کول دي؛ ۲) عقيقه د ماشوم لپاره د فديې په څېر ده، چې د مصيبتونو او آفتونو څخه د هغه د ساتنې سبب گرځي، لکه څنگه چې الله تعالی حضرت اسماعيل عليه السلام د لوې ذبحې په بدل کې خلاص کړ؛ ۳) د خوښۍ او خوشحالۍ ځرگندونه ده، د اسلامي شعايرو په ترسره کولو او د يوه مؤمن انسان د زېږېدو له امله، چې د مسلمانانو نسل پرې زياتېږي؛ ٤) د مسلمانانو ترمنځ د ورورولۍ او مينې اړيکې ټينگوي، ځکه چې بېوزلي او شتمن په يوه دسترخوان سره راټولېږي او د نوي ماشوم په مناسبت خوښي ځرگندوي؛ ۵) د ماشوم لپاره د شفاعت د بند خلاصون دی د خپل مور او پلار په حق کې(علوان، ۱۹۹۲م ، ج۱، ص۱۰۶ - ۱۰۷).

**تبصره**

د عقيقې د حکمتونو له مطالعې څخه ځرگنديږي چې عقيقه په اسلام کې يواځې يو عبادتي عمل نه دی، بلکې يو داسې جامع سنت دی چې ديني، ټولنيز، اخلاقي او روزنيز اهداف په ځان کې رانغاړي، اسلام د ماشوم د زېږون له لومړيو شېبو څخه د هغه د حقوقو او د کورنۍ د مسؤليتونو د تنظيم لپاره ځانگړې لارښوونې وړاندې کړې دي، چې عقيقه يې له مهمو مظاهرو څخه گڼل کېږي، د عقيقې په ترسره کولو

سره والدين د الله تعالى د هغه ستر نعمت شکر ادا کوي چې د اولاد په بڼه يې ورته ورکړى دى، څکه په اسلامي تعليماتو کې د نعمت شکر د هغه د بقا، زياتوالي او برکت سبب ګڼل شوى دى.

له بلې خوا، د عقيقې مشروعيت د دې شکارندويي کوي چې اسلام د ماشوم له زېږون سره سم د هغه د خير، برکت او ساتنې لپاره عملي تدابير نيولي دي، د اسلامي علماوو د څرګندونو له مخې، عقيقه د ماشوم لپاره د فديې او ساتنې حيثيت لري او د هغه د ژوند د پيل له مرحلې سره د خير او برکت د تراو يو مهم لامل بلل کېږي، همدارنګه عقيقه د اسلامي شعايرو د احيا او د مسلمانانو د هويت د پياوړتيا يوه وسيله ده، څکه د نوي ماشوم د زېږون په مناسبت د دې سنت ادا کول د اسلامي ارزښتونو او ديني شعائرو د ژوندي ساتلو څرګندونه کوي.

ټولنيز اړخ ته په کتو، عقيقه د مسلمانانو ترمنځ د مينې، ورورولۍ او ټولنيز پيوستون د پياوړتيا سبب ګرځي، د عقيقې په مراسمو کې خپلوان، ګاونډيان، دوستان او بېوزلي کسان راټولېږي، چې دا چاره د ټولنيزو اړيکو په ټينګښت، د خوښۍ په شريکولو او د متقابلې همکارۍ په رامنځته کولو کې مهم رول لري، په ځانګړې توګه د بېوزلو او اړمنو کسانو په خوراک کې شريکول د اسلامي ټولنيز عدالت او همدردۍ روحيه لا پياوړې کوي.

له همدې امله ويلاى شو چې عقيقه يو حکيمانه او ژور اسلامي سنت دى چې د الله تعالى د نعمت شکر، د ماشوم لپاره د خير او برکت غوښتنه، د اسلامي شعايرو احيا، د ټولنيزو اړيکو پياوړتيا او د اسلامي ټولنې د يووالي او انسجام په تأمين کې مهم او ارزښتناک رول لري.

### ۵-۲-۷. ختنه يا سنتول

د ماشوم يو بل حق د هغه سنتول دي چې دغه کار د علماؤ په نزد واجب دي په دې اړه ابوهريرة‌ﷺ روايت کوي چې رسول‌اللهﷺ فرمايي: «الْفِطْرَةُ خَمْسٌ: الْخِتَانُ وَالِاسْتِحْدَادُ وَنَتْفُ الإِبْطِ وَتَقْلِيمُ الأَظْفَارِ وَقَصُّ الشَّارِبِ.»(السجستاني، ج۴، ص۱۳۵، ح۴۲۰۰). ژباړه: «فطرت پنځه شيان دي: ختنه (سنتول) کول، د شرمګاه د وېښتانو لرې کول، د تخرګ وېښتان ايستل، د نوکانو پرې کول او د برېتو لنډول».

### ۵-۲-۸. د شيدو د (رضاعت) مودې پوره کول

د ماشوم د حقوق څخه يو حق ماشوم ته شيدې ورکول او د شيدو ورکولو موده پوره کول دي، چې د شيدو(تې) ورکولو موده، دوه کاله ده دا کار د انسان په ژوند کې د جسمي او ټولنيز جوړښت دواړو لپاره ډير مهم او اړين دي او اسلامي شريعت ډير مهم ګڼلي دي الله فرمايي: «وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ ۖ لِمَنْ أَرَادَ أَن يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ ۚ»(البقره: ۲۳۳). ژباړه: «او ميندې (مور) دې شيدې ورکوي اولاد خپل ته دوه کاله پوره دا (حکم) هغه چا لپاره دى، چې اراده لري د دې چې پوره کړي نيته د تې ورکولو. (عثماني او ديوبندي، ۱۴۱۴هـ: ج۱، ص۱۹۰).

[اوسنيو رواني او صحي څېړونو دا ثباته کړې چې دوه کاله پوره خپل اولاد ته د شيدو ورکول د ماشوم په فريکې او دماغي جوړښت کې خورا اهميت لري. البته اسلامي شريعت د نن څخه څه باندې ۱۴۰۰ کاله وړاندې يواځې په مور نه ده لازمه کړې، بلکې پلار هم په کې شامل دى هغه داسې چې د ماشوم د مور لپاره به غذا او لباس برابروي، ترڅو مور د ماشوم د ساتنې او شيدو ورکولو لپاره اماده او اوزګاره وي.]

### ۵-۲-۹. حضانت نفقه ورکول

ماشوم بل حق د هغه ژوند او صحت ته پاملرنه کول دي چې د شيدو ورکولو وروسته دا مرحله شروع کېږي چې د حضانت مرحله ورته ويل کېږي. د ماشوم د نفقې ترڅنګ جامې د او اوسيدو ځای به هم ورته برابروي، په دغه مرحله کې د هغه نفسي او روحي حالت ته هم پاملرنه ضروری ده، چې په ماشوم بايد رحم وشي، د هغه علم، عبادت، تلاوت، لمونځ، روژه، ليک او لوست، د نيکۍ کارونه، د ژوند اداب او د سنتو تابعداري ور وښودل شي چې د ژوند کولو اساسي اسباب او د انسان د روح او زړه د خوشحالۍ سبب ګرځي(الشحود، ج، ۳۰، ص ۷۵).

دا چې ماشوم د ژوند لومړۍ مرحله د مور د غيږې نه پيلوي، نو ځکه دا د مور دنده ده چې د ماشوم ښه ساتنه وکړي، ترڅو ماشوم(۷) کلنۍ ته ورسيږي، چې د اووه کلنۍ نه وروسته دا مسؤليت بايد په ګډه سره مور او پلار لخوا په ښه شان سره ترسره شي، ځکه دا يوه ډيره اساسه مرحله ده، د انسان د راتلونکي ژوند لپاره، نو په همدې اساس مور او پلار بايد په دې مرحله کې خپل اولاد ته زياته توجه او پاملرنه وکړي(الشحود، ج۳۰، ص ۷۵).

د علماؤ په اتفاق سره د مور او پلار نفقه په اولاد او د اولاد نفقه په مور او پلار واجبه ده په خپل خپل وخت او زمان سره(الشحود، ج۳۰، ص ۷۵).

حديث کې راځي: «عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ دِينَارٍ يُنْفِقُهُ الرَّجُلُ دِينَارٌ يُنْفِقُهُ عَلَى عِيَالِهِ»(ابن‌حنبل، ۱۴۲۰هـ: ج۳۷، ص ۱۱۸، ح۲۲۴۵۳) او (الترمذي، ۱۹۹۸م: ج۳، ص۴۱۰، ح۱۹۶۶). ژباړه: «بهترينې پيسې د يو چا لپاره هغه دي چې په خپل ځان، اولاد او اهل و عيال باندې خرچ کړي».

### ۵-۲-۹. ماشوم ته اسلامي تربيه او روزنه ورکول

د ماشوم مهم حق د هغه اسلامي تربيه او روزنه ده، په والدينو لازمه ده چې خپل اولاد لپاره د خپل کور چاپيريال د اسلامي شريعت د لارښوونو سره سم برابر کړي، خپلو ماشومانو ته د اسلامي شريعت د لارښوونو په رڼا کې د ژوند او له خلکو سره د چلند کولو اصول ور زده کړي، ځکه اسلامي تربيه ده چې يو انسان ته د عالم، لارښوونکي او نمونې جوړيدلو لارې چارې ښايي، رسول‌اللهﷺ فرمايي: «مُرُوا أَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِينَ وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرِ سِنِينَ وَفَرِّقُوا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ».(التبريزي، ۱۹۸۵م: ج۱، ص۱۲۶، ح۵۷۲) او (السجستاني، ج۱ ص ۱۸۵، ح ۴۹۵). ژباړه: «خپلو اولادونو ته د لمانځه امر او حکم وکړئ کله چې دوی (۷) کلن شي او کله چې لس کلن شي د لمانځه په پريښودو يې ووهۍ او د ويده کېدو ځايونه يې سره جلا کړئ».

[دا حديث د اسلامي ارشاداتو سره سم د ماشوم روزلو يوه بيلګه ده چې داسې نور ډير احاديث شته دی په دې برخه کې. د اسلام مبارک دين د ماشوم تربيې ته ډير زيات اهميت ورکوي، چې پر خلاف يې د اسلام دښمنانو زمونږ د ماشومانو د بې لارې کولو لپاره بيلا بيلې وسيلې په کار اچولې، ترڅو د مسلمانانو اخلاق خراب او له اسلام نه باخبره او پر اسلام سرښندوکي نسل راپورته نه شي. نو پر ټولو مؤمنانو والدينو فرض ده چې د داسې اسلام دښمنه کارونو او ناوړه اخلاقو څخه خپل اولاد لرې وساتي.]

د انسؓ څخه روايت دی چې رسول‌اللهﷺ فرمايي: «يَا بُنَيَّ، وَإِذَا دَخَلْتَ مَنْزِلَكَ فَسَلِّمْ عَلَى نَفْسِكَ ، وَعَلَى أَهْلِ بَيْتِكَ».(الترمذي، ۱۹۹۸م، ج۴، ص۳۵۶، ح۲۶۹۸) او (الطبراني، ۱۴۱۵هـ: ج۶، ص۱۲۳، ح۵۹۹۱).

ژباړه: «انسﷺ وايي چې رسول اللهﷺ وويل ای زویه کله چې کور ته ننوځې، نو په کوروالو دې سلام اچوه په دې سره به الله تا ته هم برکت درکړی او په کوروالو به دې هم برکت وکړي».

بل حديث کې راځي: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا نَحَلَ وَالِدٌ وَلَدَهُ أَفْضَلَ مِنْ أَدَبٍ حَسَنٍ». (ابن‌حنبل، ۱۴۲۱هـ: ج۲۷، ص ۲۶۵، ح۱۶۷۱۰). ژباړه: «رسول اللهﷺ فرمايلي: د پلار له پاره خپل ځوی ته تر ښه ادب ورکولو پرته بله غوره ډالۍ او تحفه نه شته».

حديث کې راځي: «عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلًا مَعَهُ غُلَامٌ، فَقَالَ لِلْغُلَامِ: «مَنْ هَذَا؟» قَالَ: أَبِي. قَالَ: «فَلَا تَمْشِ أَمَامَهُ، وَلَا تَسْتَسِبَّ لَهُ، وَلَا تَجْلِسْ قَبْلَهُ، وَلَا تَدْعُهُ بِاسْمِهِ»(النووي، ۱۴۱۴هـ: ج۱، ص۲۸۷) او (ابن‌السُّنِّي، ج۱، ص۳۵۳، ح۳۹۵) ژباړه: «ابو هريرهﷺ وايي: رسول اللهﷺ يو سړی وليد چې يو هلک ورسره ؤ هلک ته يې وويل: دا څوک دی؟ هغه وويل دا زما پلار دی، رسول اللهﷺ ورته وويل، نو له ده نه مخکې مه ځه او مه داسې کار کوه چې د هغه کار له امله دې پلار تا ته ښکنځلې وکړي او له ده نه مخکې مه کېنه او په نامه يې مه رابوله يعنی اواز ورته په نوم سره مه کوه».

د اسلامي تربيت او روزنې اړوند يوه په زړه پورې قصه: د اسلام پنځم راشد خليفه عمر بن العزيز خپل يو ځوی وليد چې زړې جامې يې په تن وې، نو په سترګو کې اوښکې راغلې ځوی يې چې د ده اوښلنې سترګې وليدې پوښتنه يې وکړه چې پلاره ولې ژاړې؟ پلار يې ورته وويل: زويه دا د اختر په ورځ چې دې دا نور ماشومان په دې جامو کې وګوري او ته د هغوی تازه او ښکلې جامې ووينې ويريږم چې زړه به دې مات شي، تاسو څه فکر کوی چې ايا دې زاهد خليفه خپل اولادونه څه ډول روزلي ؤ؟

دا زاهد خليفه د خپل ځوی په حال اوښکې تويه وي، خو هغه د اخلاقو لوړه نمونه ځوی يې داسې ځواب ورکوي چې په هغه کې زموږ د ماشومانو لپاره د اخلاقو کتابونه پراته دي هو د هغه په دې يوه خبره کې. ځوی ورته وايي: پلاره زړې جامې دومره مهمې نه دي چې د سړي زړه مات کړي اصلاً د الله رضا نه ترلاسه کول هغه ستره بد مرغي ده، چې زړه ماتوي او د مور او پلار نافرماني هغه لويه بد اخلاقي ده چې زړه ماتوي او زه اميد لرم چې ستا په رضا او خوشحالولو سره به د الله رضا ترلاسه کوم(نوادر العرب، ۱۴۰۵؛ الراشدي، ۱۴۰۵).

**۶. پایله**

۱: ماشومتوب د انسان د فکري، اخلاقي او ټولنيز شخصيت د جوړېدو بنسټيز پړاو دی، له همدې امله نبوي احاديثو د ماشوم د سالمې روزنې او پالنې لپاره ځانګړې لارښوونې وړاندې کړې دي.

۲: ماشوم حقوق په نبوي احاديثو کې يواځې د زيږون وروسته مرحلې پورې محدود نه دي، بلکې د صالحو والدينو له انتخاب، د حمل د دورې له ساتنې او د جنين د ژوند له خونديتوب څخه پيلېږي، چې دا د اسلام د وقايوي او جامع حقوقي نظام څرګندونه کوي.

۳: د مور او جنين د حقونو ساتنه او د هغوی د روغتيا خونديتوب د ماشوم د ژوند د حق د تأمين لپاره اساسي ارزښت لري، چې دا د انساني ژوند د ساتنې په اړه د اسلامي شريعت ځانګړې پاملرنه ثابتوي.

۴: د رضاعت حق ته ځانګړې پاملرنه د ماشوم د سالمې جسمي، ذهني او رواني ودې لپاره مهمه وسيله ده او په دې برخه کې نبوي لارښوونې له معاصرو طبي موندنو سره همغږي لري.

۵: د ماشوم د تعليم او تربيې حق د سالمو افرادو او متوازنې ټولنې د جوړېدو لپاره حياتي ارزښت لري، ځکه د ماشوم سمه روزنه د ټولنې په اصلاح او پرمختګ کې مهم رول ادا کوي.

۶: د ماشوم د ودې د پړاوونو تدريجي تنظيم د هغه له فطري او رواني ځانګړتياوو سره بشپړ توافق لري او د مسؤوليت منلو، شخصيت جوړوني او اخلاقي ودې لپاره مناسب فرصتونه برابروي.
۷: که څه هم د رشد د سن په اړه د فقهاوو او معاصرو قوانينو ترمنځ ځينې اختلافات شته، خو دواړه د ماشوم د حقوقو د خونديتوب او د هغه د ګټو د تامين په اصل کې سره همغږي دي.
۸: په ټوليز ډول، مناقشې ثابته کړه چې نبوي احاديثو د ماشوم د حقوقو يو جامع، متوازن او عملي نظام وړاندې کړی، چې د ماشوم د شخصيت د سالمې ودې، د کورنۍ د ثبات او د يوې سالمې او عادلانه ټولنې د جوړېدو لپاره قوي بنسټ برابروي.

## مأخذونه

**القران الكريم**

- ابن ابي شيبه، الحافظ عبدالله بن محمد .(ب.ت). **المصنف**. بيروت: مكتب الدراسات و البحوث في دارالفكر.
- ابن السُّنِّي، أحمد بن محمد بن إسحاق بن إبراهيم بن أسباط بن عبد الله بن إبراهيم بن بُدَيْح، الدِّيْنَوَرِيُّ. (ب.ت). **عمل اليوم والليلة سلوك النبي مع ربه عز وجل ومعاشرته مع العباد**. المحقق: كوثر البرني. جدة / بيروت: دار القبلة للثقافة الإسلامية ومؤسسة علوم القرآن.
- ابن أنس، مالك. (۱۴۲۵هـ). **الموطأ**. المحقق: محمد مصطفى الأعظمي. متحده عربي امارات: مؤسسة زايد بن سلطان آل نهيان، لومړی چاپ.
- ابن‌بطال، أبو الحسن علي بن خلف بن عبد الملك. (۱۴۲۳هـ). **شرح صحيح البخارى**. تحقيق: أبو تميم ياسر بن إبراهيم. سعودي رياض: مكتبة الرشد، دويم چاپ.
- ابن‌حجر، احمد بن على بن حجر ابو الفضل العسقلاني الشافعي. (۱۳۷۹ هـ). **فتح‌الباري**. بيروت لبنان: دارالمعرفه.
- اسماعيل، سيد سميعه بنت. (۲۰۱۳م). «**حقوق الطفل في الشريعة الإسلامية والقانون البروناوي**» Master's thesis. Universiti Islam Sultan Sharif Ali. http://unissa.edu.bn:8080/handle/20.500.14275/3905
- ابن‌قدامه، أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي، الشهير بابن قدامة المقدسي. (۱۳۸۸هـ). **المغني**. القاهره: مكتبة القاهره.
- ابن‌قيم، محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين الجوزية .(۱۳۹۱هـ). **تحفة المودود بأحكام المولود**. المحقق: عبد القادر الأرناؤوط. دمشق: مكتبة دار البيان، لومړی چاپ.
- البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله الجعفي. (۱۴۰۷هـ). **الجامع الصحيح المختصر- البخاري**. تحقيق : د. مصطفى ديب البغا أستاذ الحديث وعلومه في كلية الشريعة - جامعة دمشق. بيروت: دار ابن كثير، اليمامة، دويم چاپ.
- البيهقي، احمد بن حسين على بن موسى ابوبكر. (۱۴۱۴هـ). **سنن الكبرى**. مكه المكرمه: مكتبه دار الباز.
- التبريزي، محمد ابن عبدالله الخطيب. (۱۹۸۵م). **مشكاة المصابيح**. تحقيق: محمد ناصر الدين الالباني. لبنان بيروت: المكتب الاسلامي.
- الترمذي، محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، أبو عيسى. (۱۹۹۸م). **سنن الترمذي**. المحقق: بشار عواد معروف. بيروت: دار الغرب الإسلامي.

- الجزيري، عبد الرحمن بن محمد عوض. (۱۴۲۴هـ). **الفقه على المذاهب الأربعة**. لبنان بيروت: دار الكتب، دويم چاپ.
- جديد، حنان. (۲۰۱۹م). «**حقوق الطفل بين الشريعة الإسلامية والقانون الجزائري**». Rawafid Journal for Research and Studies. https://journals.univ-ghardaia.edu.dz/rawafid/en/article/view/170
- الراشدي، علي بن سالم. (۲۹ / ۲ / ۱۴۰۵) . 10:55PM د عمر بن عبدالعزيز او د هغه د زوى د اخلاقو كيسه https://x.com/AliSalimAlrash2/status/1781854834821324968.
- السجستاني، سليمان بن الأشعث أبو داود الأزدي. (ب.ت). **سنن أبي داود**. تحقيق: محمد محيي الدين عبد الحميد. بيروت: دارالفكر.
- زرمان، محمد. (۲۰۰۰م). «**حقوق الطفل في الشريعة الإسلامية**»: Algerian Scientific Journal Platform (ASJP). https://asjp.cerist.dz/en/article/84234
- الابوبكر احمد ابن الحسين البيهقي (۱۴۱۰هـ)**. شعب الايمان**، تحقيق: محمد السعيد بسيونى زغلول، ناشر: دار الكتب العلميه بيروت.
- الشوكاني، محمد بن علي بن محمد بن عبد الله اليمني. (۱۴۱۳هـ). **نيل‌الأوطار**. تحقيق: عصام الدين الصبابطي. مصرف: دار الحديث، لومړى چاپ.
- الشوكاني، محمد بن علي بن محمد بن عبدالله اليمني. (۱۹۸۷م). **الدراري المضيه شرح الدرر البهية**. لبنان بيروت: دارلمكتب العلميه.
- الشيباني، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني. (۱۴۱ هـ او ۱۴۱۶هـ). **مسند الإمام أحمد بن حنبل**. المحقق: أحمد محمد شاكر. القاهره: دار الحديث، لومړى چاپ.
- الصنعاني، محمد بن إسماعيل الأمير الكحلاني. (۱۹۶۰م). **سبل السلام**. بيروت: مكتبه مصطفى الباب الحلبي.
- الطبراني، أبو القاسم سليمان بن أحمد .(۱۴۱۵هـ). **المعجم الأوسط**. تحقيق: طارق بن عوض الله بن محمد، عبد المحسن بن إبراهيم الحسيني. القاهره: دارالحرمين.
- الطبراني، سليمان بن أحمد بن أيوب أبو القاسم. (۱۴۰۴هـ). **المعجم الكبير**. تحقيق: حمدي بن عبدالمجيد السلفي. الموصل: مكتبة العلوم والحكم، دويم چاپ.
- الطحاوي، أبو جعفر أحمد بن محمد بن سلامة بن عبد الملك بن سلمة الأزدي الحجري المصري المعروف. (۱۴۱۴هـ). **شرح معاني الآثار**. حققه وقدم له: محمد زهري النجار - محمد سيد جاد الحق من علماء الأزهر الشريف. الباحث بمركز خدمة السنة بالمدينة النبوية: عالم الكتب، لومړى چاپ.
- عثماني او ديوبندي، شبير احمد او محمود الحسن. (۱۴۱۴هـ). **كابلي تفسير**. سعودي عربستان: شاه فهد چاپخونه.
- علوان، عبدالله ناصح. (۱۹۹۲م). **تربية الأولاد الاسلامي**. مصر: دارالسلام للطباعة و النشر والتوزيع. يوويشتم چاپ.
- القطان، مناع بن خليل. (۱۴۲۲ هـ). **تاريخ التشريع الاسلامي**. (پنځم چاپ). الناشر: مكتبة وهبة
- النسائي، أبو عبد الرحمن أحمد بن شعيب بن علي الخراساني، النسائي. (۱۴۲۱ هـ ق). **السنن الكبرى**. حققه وخرج أحاديثه: حسن عبد المنعم شلبي، أشرف عليه: شعيب الأرناؤوط، قدم له: عبد الله بن عبد المحسن التركي. (لومړى چاپ). بيروت: مؤسسة الرسالة.

المهداوي، على قاسمي زيدان. (۲۰۲۳م). «**حقوق الطفل بين الشريعة الإسلامية و القانون العراقي**»: Journal of Juridical and Political Science, College of Law and Political Science, University of Diyala. https://doi.org/01755.01/jjps.CO.515.7572

- نوادر العرب. (۲۹ / ۲ / ۱۴۰۵). **د عمر بن عبدالعزيز او د هغه د زوى كيسه**: https://www.facebook.com/groups/2937314653201849/posts/4285168478416453/
- النووي، الامام الفقيه المحدث محيي الدين أبي ذكريا يحيى بن شرف النووي الدمشقي. (۱۴۱۴هـ). **الاذكار النووية**. لبنان: دار الفكر.
- النيسابوري، مسلم بن الحجاج أبو الحسين القشيري. (ب.ت). **صحيح مسلم**. تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي. بيروت لبنان: دار إحياء التراث العربي.
- الهندي، علاء الدين علي بن حسام الدين ابن قاضي خان القادري الشاذلي الهندي البرهانفوري ثم المدني فالمكي الشهير بالمتقي. (۱۴۰۱هـ). **كنزالعمال**. مؤسسة الرسالة، پنځم چاپ.

# حقوق الأطفال في الأحاديث النبوية

هبت‌الله عابد[۱]


## الملخص

يُطلق مصطلح "الطفل" على الإنسان منذ ولادته وحتى بلوغه سن الرشد، وتُعتبر هذه المرحلة أساسية في تشكيل شخصية الفرد، حيث يتكون خلالها بناؤه الفكري والنفسي والاجتماعي، لذا فإنّ رعايته السليمة وتأمين حقوقه يحظيان بأهمية خاصة. تُعدّ حقوق الأطفال من الموضوعات المهمة والأساسية في الشريعة الإسلامية، وقد أولتها الأحاديث النبوية عناية خاصة. يتناول هذا البحث حقوق الأطفال في ضوء السنة النبوية دراسة تحليلية وعلمية، بهدف بيان الحقوق التي كفلها الإسلام للطفل منذ بداية حياته وحتى بلوغه سن الرشد. تكمن أهمية هذا البحث في أن العالم المعاصر قد تطرق إلى موضوع حقوق الأطفال في وقت متأخر نسبياً، في حين أن الإسلام قد وضع منذ أكثر من ۱٤۰۰ عام مبادئ شاملة تتعلق بحياة الطفل، ورعايته، وتعليمه، ونفقته، وأمنه العاطفي، واحترامه الاجتماعي. ويسهم هذا البحث في زيادة وعي الآباء والمعلمين والمسؤولين الاجتماعيين، ويقدّم بديلاً إسلامياً للنقاشات الحقوقية المعاصرة. تهدف هذه الدراسة بشكل أساسي إلى تحديد حقوق الأطفال في الأحاديث النبوية، وتصنيفها، وإبراز قيمتها العملية للعالم المعاصر. اعتمد هذا البحث على المنهج النظري (الكيفي)، حيث تم جمع المعلومات من القرآن الكريم، والأحاديث النبوية، والمصادر الفقهية والقانونية، وتحليلها بشكل تحليلي. وقد توصل البحث إلى أن السنة النبوية نظّمت حقوق الطفل في مرحلتين أساسيتين: مرحلة ما قبل الولادة ومرحلة ما بعد الولادة، وتشمل هذه الحقوق اختيار الأم الصالحة، وحماية الجنين، ومنع الإجهاض، والأذان، والتحنيك، والاسم الحسن، والعقيقة، والرضاعة، والنفقة، والتربية الإسلامية. وفي المجمل، تقدم الأحاديث النبوية نظاماً متكاملاً ومتوازناً وعملياً لحقوق الطفل، يُعتبر أساساً لبناء مجتمع سليم ومتوازن.


**الكلمات المفتاحية:** الحقوق، الحديث، الطفل، الصحابة، الأحاديث النبوية.

۱.عضو الهيئة التدريسية في كلية الحقوق والعلوم السياسية، جامعة روشان: hebatabid2021@gmail.com